کابل



ادراس پښتو ټولنه، د «ابن سینا» واټ
تلګرافي عنوان: کابل، پښتو ټولنه
ټوله لیکونه و ع ، عبدالرحمن خان
«پژواك» د پښتو ټولنې عمومي مدیر
ته کېږي .

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجله)
(ادبي ، اجتماعي ، تاریخي)
د پښتو ټولنې د صحافت له څانګې
څخه خپرېږي

اشتراك
کابل : ۲٤ افغاني
دننه مېنه ۲٦ «
دباندې ۱ سترلنګ پوند
د ښوونځیوزده کوونکو ته ۱٤ افغاني

۱۱ کال . . . سنبله د میاشتې اګست ۱۳۲۰ - ۱۹٤۱ ع ؛ (٦) ګڼه

ددې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
داستقلال درویشتم کال	ښاغلی «پژواك»	۱
- دشیرین وطن خپلوا کی	« « بینوا »	۲
د آزادی هواد	« « الفت »	۳
داستقلال سندره	« «زمریالی»	٤
زه اوزړه	« « بینوا »	«
د ژوندرڼا	« « الفت »	٦
استقلال میزه اوغرځنۍ	« « اخلاص »	۷
بداه	« « . «	۸
دخپلوا کۍ روزنه	« « صدیقی »	۱۰
- دوطن تراته	« « زمریالی »	۱۱
داستقلال جشن	« « ښاد من »	«
په قفس کی بلبل	« « مولوی صالح محمد خان »	۱۲
- دپښتو ستاینه	« عزیز الرحمن خان	۱٤
- داستقلال جشن	« « بلبل افغان »	۱۵
- دخپلوا کۍ زړی	« « نوری »	«
استقلال اوآزادی	« « خادم »	۱۷
د آزادی ستوری	« « فراهی »	۱۸
د آزای ورځ	« « رشتین »	۱۹
عشق	« « نظامی »	۲۰
سیا	« « پژواك »	۲۱
سوې ناره	« «	«
مړه بنفشه	« «	«
اوښکی	« « نعیمی »	۲۱
داستقلال ساتنه دوطن دوستی نتیجه ده	« « نظامی »	۲۳
- خپلوا کی دپښتو نخوادوی ترټل	« « کشککی »	۲٤
استقلال	« « جرار »	۲۵
«	« میا اورادالدینخان	۲۷
دخپلوا کی اهمیت	« « عصیمی »	۲۸
سپینه	« « حبیبی »	۲۹
شعر اوشاعری	« « ایازی »	۳۲
شفاهی ادبیات	« « کهزاد »	۳٤
ادبی انتقاد	« « خادم »	۳٦
- دپښتو حروف	« «جرار»	۳۷
درې خوندی اویوورور	« « خوږمن »	۳۸
داصلاح دروز نامی ۱۳ کال	د صحافت څانګه	٤۰
عکسونه (۹) قطعی		

Kabul

Revue mensuelle scientifique,historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 126 Auguste

دکابل دکالنۍ اعلانونه

۱ :ـ دلمړی کال	۱۳۱۱	کالنۍ	په کابل کی	۳ نیمی افغانۍ	په ولایاتو کی	٤ افغانۍ	په دباندی کی	دري	کلداری
۲ :ـ ددوهم «	۱۳۱۲	«	«	٦ «	«	۷ «	«		لس شلنگ
۳ :ـ ددریم «	۱۳۱۳	«	«	٥ نیمی «	«	٦ نیمی «	«		«
٤ :ـ دخلرم «	۱۳۱٤	«	«	٦ «	«	٦ «	«		«
٥ :ـ دپنځم «	۱۳۱٥	«	«	٤ «	«	٤ نیمی «	«		«
٦ :ـ دشپږم «	۱۳۱٦	«	«	۱۰ «	«	۱۲ «	«		«
۷ :ـ داوم «	۱۳۱۷	«	«	۱۸ «	«	۲۱ «	«		«

دکابل د مجلې کلکسیو نونه

داول ، دوهم ، دریم کال کلکسیونونه یوجلد په کابل کی ۱٤ ، په ولایاتو کی ۱٦ افغانۍ او په دباندی کی لس شلنگ دی ـ اودخلرم ، پنځم ، شپږم کال ٦ کلکسیونونه په دوو جلدو کی په کابل کی ۱۷ افغانۍ په ولایاتو کی ۱۸ افغانۍ په دباندی کی لس شلنگ دی

پښتون شهید اعلیحضرت محمدنادرشاه د خپلوا کۍ ګټند وی چه په پښتنی همت او نادرانه غیرت ئی دګران وطن استقلال وګاته

(خوښ دی وی دده سپېڅلی لوړروح)

د استقلال د رویشتم کال

ښاغلی عبدالرحمن خان « پژواك »

لمړی دلوی څښتن نوم یادوو، بیاد هوادسعادت او هوسائی غواړو، وروسته تردې دخپلوا کی د د رویشتم جشن تبریك اوخپل تاوده احساسات اوقلبی جذبات ښاغلو گرانو وطندارانوته اوددې مجلې محترمو لو ستونکو ته وړاندی کوو اوپس له هغه دهغه شهید شانداره پادشاه چه داتولی رنا گانی د هغه دتوری دبریش او سیوری لاندی زمونږ نصیب شوی دی احترام او یادونه کوو . په پای کښې خپل لوړسرونه دنیاز په خاورو ږدو چه دا راکړ شوی نعمتونه په مونږ پیرزو کړی اومونږ ته طاقت اوتوفیق را کړی چه خپله خپلوا کی اوملی شانونه دخلمی تولواك اعلیحضرت محمدظاهرشاه ترتوری اوسیوری لاندی وساتو اولکه خپل شانداره پلر و نه مدام دخپل حق حجت په خپلو وینو مهر کړو اوپه هسکه غاړه اوسرلوړی ژوندون ترسره کو اورا تلو نکی نسل ته هغه میراثونه پریدو چه مونږ ته دپخوانیو څخه پاتی دی اومونږ په هغه فخر اومباهات کوو .

خپلوا کی ! هوهغه خپلوا کی چه زمونږ دخو شحالی پنگه ده اومونږ ئې په لار کښې چراغونه بل کړی دی .

خپلوا کی ! هغه کلمه ده چه په حقیقی سعادت اوثابت حق ترجمه کیږی اود صحیح افتخار، شانداره ژوندون اود وتلی ارماند مرادفه کلمه ده .

خپلوا کی ! هغه سوال چه گرد فلاسفه په اتفاق وریاندی تو ل شوی اوویلی دی چه داهغه شی دی چه بشر ورته احتیاج لری اودا احتیاج یوفطری اوطبیعی احتیاج دی چه لکه هوا دژوندون لمړی شر ط گڼل کیږی . خپلوا کی اواختیار په حیات کښې یوازی دانسان ثابت حق اوضروری احتیاج نه دی بلکه حیوانات اونباتات هم په دې کلیه کښې شامل دی .

حق دهر چاپه نظر کښې یوشانی نه وی. حق هلته پیژندل کیږی چه یو واری لاس ته راشی اوسړی دهغه په لذت پوه شی. ډیر داسی مثالونه شته چه دا مدعا ثابتوی . دمثال په ډول میراث هلته دزوی په زړه کښې خوږ شی چه وپوهیږی چه دا دپلار نه پاتی حق دی .

نو دپښتون دزوی مینه له خپلوا کی سره ډیره زیاته ده اود پښتو ن زوی پوهیږی چه خپلوا کی اوتوره دده لمړی میراث دی .

نومونږ په دې خوښ یو چه مونږ خپل حق پیژنو اودحق ساتنه هم په سراوزر، او دزړه په وینوهم مونږ ته په میراث پاتی ده او کلکه عقیده لروچه داحق به ترابده ساتو اوددې په ساتنه خپل ناموس ، شرا فت ، شان پښتونولی اوژوندون ساتو .

د شیرین وطن خپلواکی

عبد الرؤف « بینوا »

دینا دحواد ثوځای دی ، دهغو حوادثو چه دقدرت دنری شمال واك هم نه لری ـ . تل لکه د سینما پردې ګړی په ګړی ئې بنه اوشکل اوړی . . . .

هغه حوادث چه خوښې اونیك مرغې راولی ترهغو حوا د ثو چه خواشینې او بدبختې زېږوی ډېر لږدی ، یا په بل عبارت ددې سینما هغه فلمو نه چه کمیدی . او خو شا لو و نکی و ی په محدو د و شپو کښې و محدودو خلقوته خر ګندېږ ی ـ اوبالعکس تراژ د ی ، بیروونکی فلمونه هره شپه اوهر څوك ئې لیدلای شی ـ !

څه باعث دی چه نن ، اسما ن ، مځکه ، لوړ لو ړ ښکلی غرونه او سیندونه و پښتو ن ملت ته په نر م تبسم کاته کوی ـ . . .

اودپښتونخوا پر سپین زیرو ، پر زلمیو ، پر وړو کو باند ی د خوښې زېری کوی او په خند ا خندا تبر یك ورته وائی ـ دا ځکه چه دوی هم په دې خوښ دی چه یو غیورقوم په خپلوا کی سره خپل حیات تر پایه ور سوی . . .

او لکه انسا ن چه طبعا آزاد پیداشوی دی ، هم دغسی آزادانه ژوندون وکی ، نن چه زموږ دخواږه وطن دخپوا کی یادګیرنه ده ، اوتول پښتانه ددې شینکی آ سمان ترڅپولاندی پر پښتنی بیرغ را غونډد ی ـ او په سو که سو که رپېدوئې هوسېږی . . . .

نودلویوغرو فضاهم فخر کوی چه ددې مقدسی روځی د سر پر پکړو شهیدا نو ارواح د دې په امواجو کښې په سورمخی سره پورته کښته کېږی . . . .

هم ددوی دسرو پرهاروانعکاس د ی چه هر سها ر داسمان کنارې سرې اودشفق په نامه ځان خر ګندوی ـ !

دادهغو فدا کارانو ارواح دی چه دملت دخپلوا کی اواستقلال دپاره ئې ځانونه قربان کړی دی . . . .

هو ـ فد ا کار ی هم داده چه انسا ن د جامعې د لوړ والی ا و فایدو د پاره خپل شخصی منا فع جا ر اوصدقه کړی ـ . . .

لیکن ـ دې فدا کارانو سربېره پرهغه چه ترخپلو شخصی منافعو تېرشوی دی ، خپل خوږ اوعزیز حیات ئې هم دښکلی وطن پرمینه فدا کړی دی . . . .

په دې شهیدانو مځکه او آسمان افتخار لری ، مځکه ددوی په وینو لژندبدنونه او دپښتنی غیر ته ډك ز ړ ونه په خپله پسته، نرمه غېږ کښې په خوراخوښې خوندی کړی ـ...

آسمان ئې دروحانود استقبال دپاره په خپله لامتناهی فضا کښې دستورو ډیوې بلی کړی د ی ـ او په خو را احترام « بنه راغلې » ورته وائی . . . !

درویشت کاله دمخه دې فضاوموږ ته په خوراتریوتندی کتله او پر دې خاوری ئې له هر لوری څخه د تهدید سیلی را الوزولې . . . .

ستوروهم په ډېر حیرت وپښتنو ته دحسرت ستر ګکونه وهل ـ نژدې، وچه دامحاتکی اوتندری دفلك له خوا څخه راولوېږی . . .

اودزمانې سیلابو نه اوسیلی د دې مدور ی کړې له مخه موږ ورك کړی !

اما ـ قدرت چه ددې غښتلی تبرمحو کېده نه غو ښته ، نو په دوی کښې ئې یومفکر ، مصلح پښتون اعلیحضر ت شهید محمدنادر خان خر ګند کی ـ !

چه بیائې دپښتنو چه بېری سمه اودعصر له طو فانو څخه ئې وژغورله ، د دوی تو کر تو کر اعضائې د ملی وحدت په سکنده سره وروستل .

(رحمتو نه دی وی دده پرلوړ پښتنی روح باندی)

اوس هغه روځی دی چه زموږ ملت د دې فاتح شهید په مېړانه نوی ژوند موندلی دی ـ .

خودپښتون تبرپردې خاوره وی ، ددې عا لیشا نه شهید داد قدروړ فد ا کار ی نه شی هېرولا ی او هم به د تاریخ پرزرینو پا نهوتل ترتله پاتهو ی !

د کابل مجله دده ولوړ او سپېڅلی روح ته سلامو نه تقدیموی او د لو یه ښتنه هیله لر ی چه (پښتو ن ملت) دده دزلمی خلف تولواك اعلیحضر ت محمد ظاهر شاه تربیر غ لا ند ی لانور ښه ښه مو فقیتو نه و مو ی ـ په پای کښې وایو ! ـ

(تل دی وی ز موږ د شیرین وطن خپلو ا کی)

د آزادی هواد

ښاغلی گل پاچا خان « الفت »

لمر ولېد لی وتیا ره په خپر یدو وه
دما ښام توره پرده په غو ړ یدو وه

دوطن په یوه غره کښې گر زېدم زه
له فطرت سره په زړه کښې غږ یدم زه

ځای په ځای دغره په سر کښې و کورونه
پکښې بل شوه دما ښام تازه او ر و نه

ذهر کور سیمه در نه معلو مېد له
دغیرت وزمه هر لو ر ته چلېد له

د هیبت یو ه عجیبه منظره و ه
هیبتنا که او مهیبه ننداره و ه

داو گړ ی دهمد غه غره زا من و
ددې غره په هزه گټه دوی مین و

دوی لوی شوی ود گټو په ځانگو کښې
په آزاده ښه هوا دغرو سر و کښې

ور ته تیټ ښکارېده هر څه له خپل ځانه
هسك یی نه باله هیڅ شی یې له اسمانه

ساد گی کښې خاوندان دلوی وقارو
یو په بل یی اعتماد ا و اعتبا ر و

هیڅ خبر داسا رت په مفهوم نه و
پکښې هیڅ سړی ظالم او مظلوم نه و

دوی له هر چانه نزدی وشنه آسمان ته
ښه تا بع ودخدای حکم او فرما ن ته

یی له خدایه چاته نه را تیټېده دو ی
په دنیا کښې له بل چا ، نه ویرېده دو ی

په جهان کښې یې نه خوف اونه خه دارو
مشکلا تو سره جنگ ددوی روز گارو

دو ی سا تلی وپسو نه له پرا نگا نو
دوی ژغور لی ضعیفا ن و له لیو ا نو

دوی لید لی وهر وخت خړ سیلا بونه
دوی مات کړی ودهر چاور میږ و نه

آزادی ددوی په خته کښې ښکاره وه
د آسمان سپوږمی ددوی په نندا ره وه

ښه ځا نگو د آزا دی دغه هوا د و
هر سړی یی پخپل عزم کښې فرها د و

د استقلال سندره

ښاغلي امين الله خان زمريالي

نن خو بياد چا په ياد وطن جوړېږي هري خواته دښا دي نغمې ږغېږي
تور تيپو نه دخيالي سپر و سپر ېږي لرو بري طيا ري دي چه کړ ېږي
« دنا در » دتوري روځ ده چه له تيکي
را و تلې د الماس په څېر ځلېږي
دچمن گلو نه بيا واړه تا زه دي دشهيدا نو په سرو وينو رنگينه دي
د پښتون دشجاعت ستوري ښکاره دي راو تلي لوی او کم په نندا ره دي
د شهيدانو په تعظيم عسکر ولاړ دي
چه پر سر ئې دافغان بيرغ رپېږي
زموږ پلرو او نيکه گا نو نوم ايستلي دي په توره، هرغليم دي دوی شړلي
هم په وينو استقلال دي دوی گټلي د ا وطن هم دوی و موږ و ته سپار لي
اوس خو موږ ددوی په توره سر لوئي کړو
چه په توره مو ددوی نن حق خپلېږي
دا گلان په گلستان کښې چه ليده شي شهيد ان دي چه زموږ لورته ئې کا ته شي
چه موږ څه کړ و او د لا سه به مو څه شي دې وطن ته، او په څه دود ئې سا ته شي
که موږ شو د دوی په څير نو پښتا نه يو
که نه کله به دانوم پر موږ يادېږي
هر پښتون پر خپل وطن باندي پټن دي سر لوئي د پښتنو تل سور کفن دي
اوس چه پاته ز موږ په هيله دا وطن دي دروزني لمړۍ لارئې علم و فن دي
موږ به روزو خپل وطن تل زمر ياليه؛
هم بې ساتو څو موسارا کښې چلېږي

❀ ❀ ❀

زه او زړه

عبدالرؤف « بينوا »

اې ځما زخمي نا سور زړه د خپل ځان په وينو سور زړه
په لمبو سوی تنور زړه په زړې مينی رنځور زړه
څه باعث دی چه خندا کړې ؟
بيا پر څه باندی نڅا کړې ؟
نه دی يار شته په وطن کی نه ژوندی روح دی په تن کی
په ژوند بندئې په کفن کی خوار و زار په انجمن کی
نه پر هېږم څه مسېږې ؟
چا د پاره هو سېږی ؟

چه تقدیم دی کړم هر چا ته لوی د ښمن سی هغه ما ته
هم چاړه وباسی تا ته وائی را نشې دې خوا ته
نور اغلی کوم هوس دی ؟
چه خوشحاله دی نفس دی

که پر ښکلی یار مین شې په غمو نو بې غمجن شی
که هر څو پسی خوږ من شې مکړه خیال چه بریمن شې
معشوقې ټوله ټګماری
ځینی ورکی د پت لاری

ستا به کار وی فریادونه هم ساړه ساړه آهونه
دوی به خوښ کړی مجلسونه نه به وینی ستا دردونه
تل به دوی ته مسخره یې
سپك له بوسو ور ته ته یې

نه دی زوړ پرېږدی نه نوی څه بلا زړه یې ته روی
ته د چا په اورئې سوی چه دی بد ګڼی هر ژوی
بیا لاهم خوشحال خوشحال یې
خبر نیم په څه حال یې ؟

که په غم کی سوی سکورشې یا کو ګل پرېږدې بې کورشې
یا په تور د ستر ګو تور شې یا واورو ته نسکورشې
څوك پیدا به نشی ګوره
چه دا څه درو شوه ورو ره ؟

بد بینی نده چه وایم حقیقت دی زئې نمایم
زه خوا خوږی مین ستایم ګډ په حقه په رشتیایم
که باور نکوې ګله
تجربه وکړه په خپله

دزړه جواب

دا چه ته وائې رشتیا دی هم منلی ټوله ما دی
تجربې کړی هر چا دی ګرده ګډ په واویلا دی
مګر زه چه دا خندا کړم
استقبال د دې سبا کړم

دا زما دژوند سبا دی پر افق چه ښکاره بیا دی
آسمان ماته په خندا دی د غم ستوری آلونیا دی
ځکه ډکه خوله مسېږم
تر سبا دژوند جارېږم

که هر څو ټو کر ټو کروم — له ښا د یو نا خبروم
د مجنون تر حال بتروم — پر د ښتو باندی بهروم

خود دې سبا له باده
شگفته شوم بامراده

ما ته خاندی ښکلی غرونه — د گلو نو ډک د ښتونه
داو بو سپین آبشارونه — راوړی داسی پیغامونه

مبارک مو استقلال شه
غلیمان مو ټول پایمال شه

❀ ❀ ❀

دژوند رڼا

ښاغلی گل پاچا خان «الفت»

یوه شپه می مخکښ شمع بلېد له — نه یو هېږم چه د چا په غوړ و سوله
زندگی دد غی شمع سوز ېده و — بی له اوره یی فنا او مړه کېده و
د عدم له ترزمی یو پتنگ راغی — لوغړن او تلولی په غور ځنگ راغی
ده غوښته چه ځان ستی د عشق په اور کړی — سمدلاسه ځان په اورباندی نسکور کړی
دخپل تن پېټی له ځانه کاندی لری — کړی پیدا ځانته دروح نوری و زری
ما ویل ورته چه څله خپل ځان سوځی — ژوندون ښه دی په دنیا کښ یو څوور ځی
دومره پاتی شه چه وو ینی سبا ، ته — یو ځل و کړه د دنیا ښه تماشا ته

له دې شمع تدریجی سوز یدل زده کړه — تر سحره د ډ یوې تحمل زده کړه
شمع سوځی خو محفل هم ټول رڼا کړی — ټو له شپه د ښکلو جونو تماشا کړی

ته په یو آن له ژوندونه بیزا رېږی — په دنیا کښ د هیچا نه په کار ېږی
پتنگ ووې سوزیده خو خوږ ژوندون دی — مرگ دروح او تن په منځ کښ سخت بیلتون دی

زما عمر دی ډیر لږ دژوند رڼا کښ — له ما زیاته اوسی شمع په دنیا کښ
مگر زه به دایوه گړی ژوندون — بدل نکړمه د شمع په سکون

زه پخپله خو ښه د لته ټپر ېږم — پخپل زړه د دغه اور لمبو ته ولېږم
شمع نه یم چه دبل له لاسه سوزم — یم خاوند د ارادې او د خپل عزم

ډیره ښه ده چه پخپل واک ځان ایرې کړم — نه بی وا که چه دښکلو نند ارې کړم
سوز وساز د زندگی ښه تماشا ده — د ژوندون ډیوه د عشق په اورر ڼا ده

مگر هله چه پخپل واک و اختیار وی
د بی وا کوژونددی زماله ایرو ځاروی

استقلال

مېږه او غرڅنۍ

ښاغلی عبدالخالق خان «اخلاص»

یوه شپون مېږی بیو لی و ی صحرا ته
مازدیگر چه د کاله خواته راستون شه
تقد یراً ور نه یوه مېږه شو ه پا تی
بله ورځ ورسره یو ځای غرڅنۍ شوه
یو تر بله ئی پو ښتنی سره و کړ ی
اول مېږی ور ته و کړ ی داخبری
تل په غرو رغو کښ گرځی لالهانده
ځان داخل په ملکیت کړه دبل چا کښ
غرڅنۍ ورته راستون کړ مخ له قاره
ورته وی ویل چه زه په غرو رغو کښ
نه دچا لښته لر گی را پسی غو ر ځی
چه می کومه ورشو خوښه شی ورځمه
نه یم تا غوندی اخته په اسا رت کښ
خوږ اولاد دی وی دبل ته هم دبل یې
ستا شوده غوړی دبل وړۍ دبل دی
خوږ زوزاد دی خرڅوی په قصا بانو
جوړ وی د ی له وړ یو نه فر شو نه
دډانډس ژۍ دی جوړېږی له کلمو نه
غوښی وازدی دی ورتېږی په اورباندی
څربوی دی تل دخپل مقصد د پا ره
زه به څنگه داذلت په ځان قبول کړم
آخر زه خو یه ازاد عمر خبر یم
پیدا شوی لویه شو ی یم په غرو کښ
قبلوم کله قید و نه تیر و ل زه
ا ستقلا ل می میرا ثه د پلا ر نیکه ده
څومی وینی د وجود توی شوی نه وی

گر ځولی ئی په غره کښ هری خواته
مېږی مخکښ را روان ورپسی شپون شه .
په صحرا کښ گر ځېدله کو ر میراتی
په ورو ورو ورسره غبر گه په دوستۍ شوه
ښی خبری ئی ښکاره په پټه خو له کړی
چه له خلکو ولی گر ځی مد ام لر ی
بی خاونده ، بی چوپانه ، سر سیا نده
چه ساتی د ی له لېوانو په صحرا کښ
ورته بوڅه لکه څکه شو ه له واره
شپه اوورځ یمه لگیا په شنو وښو کښ
نه لکۍ پسی می سپی اوچوپان گر ځی
مستا نه ور پکښ گر ځمه بېغمه
چه دی واك وی دبل چا په هر ساعت کښ
سپکه سپا نده دبل گټه و ټه تل یې
ستا په دغه حال په کار خدایگو ژړل دی
ته هیڅ غگ ایستلی نشی له شو نډا نو
له پو ټکی دی جوړېږی پو ستینو نه
هلکان د ی هم بېډۍ وړ ی له پښو نه
رنگا رنگ ټوقی پېښی درباندی کاندی
نه چه ښه ئی پیرزو کېږی په تاخو اره
خپل خوشحاله ژوندو ژواك ولی ملول کړم
هسی نه چه ستا په رنگه کور و کر یم
گر ځید لی یم آز اده په دښتو کښ
څو گولۍ دچا و نخورم په کو گل زه
آز ادی می دوجود وینه د زړه ده
استقلال به می تل مل د ژوندانه وی

❀ ❀ ❀

غر څنۍ داستقلال په خو ند پو هېږ ی
پښتانه فخر کوی په لو ړ و غر و نو
د پښتو ن د و طن غرونه تیږی واړه
سړی څه چه غر ځنی ئې هم آزاد دی
د «اخلاص» قلم چه کړی آزاد چلند

پښتانه به و لی نه تر ی قر با نېږ ی
استقلال ته دی ولاړ دزړه په و ینو
استقلال باندی نازېږی هسکه غا ړه
استقلال باندی قایم د خپل هو اد دی
دی بر کت د استقلال د آزاد ژوند

بدله

زلمو اخیستی چه په توره استقلال دی
د رو یشتم کا ل دی اختر د پښتنو

د پښتنو دننگ ا ختر د ی زلمو ورکړی په کی سر دی د دنیا هر قوم تر ی خبر دی
پښتون په ننگ‌دوطن تیر له‌سرومال‌دی
د ر و یشتم کا ل دی ا ختر د پښتنو

پښتو ن په ننگ د خپل وطن فخر گنی تك سو ر کفن خنگه به بر شی پر ی د ښمن
د تو کل‌توره لری غیرت ئې‌ډال دی
د ر و یشتم کال د ی اختر د پښتنو

په هر ډ گر ا و هر مید ا ن په ر هبر ی‌د پا ك قر ا ن پښتنو خپل ز ا ن که قر با ن
دهرشهیدپه اوږو خوردوینو شال دی
د ر و یشتم کال د ی اختر د پښتنو

د شهید ا نو شه پیا م زلمیانو و کړی و ر ته پام لیك په سر و وینو دا کلام
سرورکول د قام په‌مخ کی‌جاه‌جلال دی
د ر و یشتم کا ل د ی ا ختر د پښتنو

سر ور کو ل و طن د پا ر ه نیکنا می و گنی بیشما ر ه کیدی قدم زمو ږ په لا ره
هرننگیالی زلمی‌دخپل وطن لیو ال دی
د ر و یشتم کا ل د ی ا ختر د پښتنو

پـه تیر ه تـو ر ه علم و فـن کو ی خد مت د خپل و طن د پښتنو مینـد و ز ا مـن
چه خدمت نکړی د وطن هغه ناسیال دی
د ر و یشتم کا ل د ی ا ختر د پښتنو

چه د و طن نکړ ی خد مت په ز یا ته مینه صد ا قت نلر ی هیڅ قد ر و قیمت
دغیرتی په سر کی تل د وطن خیال دی
د ر و یشتم کا ل د ی ا ختر د پښتنو

دنادرشاه په‌شان غیرت کړی تازه په و ینو قو میت کړ ی زلمیانوتینگ ملی‌وحدت کړی
په اتفاق باندی راضی رب لایز ال دی
د ر و یشتم کا ل د ی ا ختر د پښتنو

پـه ا تفا ق ا و علـمیت تینگ کړی دا خپل ملك اوملت د ا د ی ز مو نږ ه نصیحت
د ز لمو حسن په د ویا علم و کمال د ی
د ر و یشتم کال د ی ا ختر د پښتنو

یو څه ډېر پښتانه چه په کراچی کښې اوسېږی د استقلال د جشن په استقبال د کراچی د افغانی قو نسلګری ـ په صالون کښې ئې خپل صمیمانه تبریکات د پښتانه د ملت ونماینده ته وړاندی کړی دی ـ اویوه دښه ذوق اوقریحې خاوند یوشعر هم ویلی دی چه اوس ئې موږ دلته خبرو و .

دخپلواکی روزنه

ښاغلی غلام حبیب خان «صدیقی»
د کورسودشعبی معاون

هر طرف مسته خندا ده — له خوښی ډکه فضا ده
خوشحالی پرپښتون خواده — هرهخوله کی دا وینا ده
استقلال مو مبارك شه
دښمنان مو تولهورك شه

پښتانه لکه زمریان دی — پروطن تیرترخپل ځان دی
په جګړه پهلوانان دی — پردې خاورو شهیدان دی
خپلواکی په دوی ساتلې
په سر و وینو ئې ګټلې

چه هر کال دغه مهال شی — ورك ددوی دزړه ملال شی
خپلواکی باند خوشحال شی — تولهګډه پهدې مقال شی
تل مدام دی خپلواکی وی
په هر کال دخوشحالی وی

پښتون تولهیو تبر دی — کهخه لردی که خه بردی
یو دبل و شاته سپر دی — تر هوادئې قربان سر دی
که په بده چا کتله
سر بې غوڅ کی په یو ځله

دنړی چه خو ملل دی — که بېړی کهخه اوبتل دی
یاهوا کی الوتل دی — یاد توپ توپك ویشتل دی
دغه تولهچه جوړ ېږی
دوطن ترسر جاړېږی

نن چه هر څونه جګړې دی — په نړی کی چه خپرې دی
یووبلته سترګی سرې دی — پرمغلوب باند حملې دی
دا جګړه پر استقلال ده
چه دنیا ټول په جنجال ده

پای کښې وایمه پښتونه — بس ته مکوه خو بونه
لږ خبر سه له ژوندونه — چه دی حال نه شی زبونه
استقلال دی ساته ګرانه
دسر سبز وغر وافغانه

ج ، ع ، ج ، ا ، ا ، نښان والا حضرت سردار محمد هاشم خان صدر اعظم ،چه دخپل خوازه ژوند ساعتونه ئې دمملکت په خدمت کښې وقف کړی دی ـ

دوطن ترانه

ښاغلی امین الله خان «زمریالی»

زموږ وطن افغانستانه ! ته دی اوسې پر دنیا
ستا اولاددی تل ژوندی وی هم دی لوړوی تر هرچا
ته جنت ئې سر پر مځکه هم ته زړه ئی دایشیا
تمدن دی پخوانی دی هم زا نګو ئې د آریا
ته ښه مېنه د پښتون ئې هم ودوی ته لکه مور
که خپل سر تر تا جار نکړی دی پښتون ته لوی پیغور

تاز موږ هغه زړه ورپلرونه مندی دی روزلی
چه ستاد پښتنو لو نوشیدې ئې دی رو دلی
هم تا د دوی دهغه تاریخ یانی دی ساتلی
چه توره او مړانې په وار وار د نیا منلی
ستا خاوره د غیرت ده لږخه تاو ورکړه وځان ته
هم بیا دی پخوانی هغه درب و ښیه جهان ته

د ګرانی مینې درونو ژرراځی چه سره تول سو
لاسونه سره ورکړو په یوزړه په یوه بول سو
پرځای مو وظیفه کړو هم په مینه یو کهول سو
جوهر بیاور ښکاره کړو ودنیاته دسر خول سو
تا کلی و ظیفې چه لو ړ تبر ته دی ننګو نه
په کړو کې که ضرورسی باید ورکړ وخپل سرونه

مال وطن اونوم موخپل دی خو چه وس مووی دځان
ولوړوالی تې یوزړه اولاس په لاس سو په ښه شان
زموږ اولاد به زموږ په پله باندی راځی لکه زمریان
هم راتلونکی وخت دپررون دی ووطن ته افغان
ځکه غواړی هر پښتون به خپل وطن ته افتخار
هم به کړی دتول تبرو سر لوړی ته خپل سر جار

یومودین یومو آئین یومو خدای یومو پیشوادی
په وینه مسلك یو یو هم دقوم موخپل پاچادی
نقصان ګټه مو یوده که څه شاه دی که ګدا دی
وطن تبر که لوړسی دالوړ والی د هرچا دی
راځی چه په نامه د پښتون والی تول روان سو
په تینګه اسلامی عقیده لوړ پر ګل جهان سو

داستقلال جشن

ښاغلی عبدالخالق خان «ښادمن»

شکر دی شکر چه نن بیا وطن ګلزار وینمه
زاړه واړه سره خوشحال پدې بازار وینمه
پښتون به ولی شکر نکړی چه لرو استقلال
سپیره چمن خپل غوړېدلی لا له زار وینمه
وطن ګلشن سو په همت زموږ دشاه شهید
په برېښ دتوری ئې وطن ځکه قرار وینمه
درویشتم کال داستقلال مو مبارك شه ځلمو
ښه ساتندوی داستقلال ظاهر نامدار وینمه
(ښادمنه) شکر کړه په دې چه مونږ لرو استقلال
دخپل هواد ښارونه تول ګل وګلزار وینمه

په قفس کی بلبل

یا

د بلبل ژړا

دښاغلی مولوی صالح محمد خان دطبع

یو سحر زما تر غو ږه سوه له بلبله — په قفس کی ئې ژړل دا ئې ویله
چه بندی سوم دصیاد له سخت د له — ولی نه پوښتی څوك حال زما یوله بله
ولی نسته بی فغان کار و بار زما
ولی حبس ابدی راغی په وار زما

نه محرم چه دزړه حال ورته بیان کم — نه می وس چه خبر داره بلبلان کم
نه ملگری چه چمن ته ئې روان کم — بیا بیان ور ته دگل ودر یحان کم
خپل ډگ زړه دارمانو ورته خالی کم
ټول مرغان دچمنو په ځان حالی کم

چا ته وژاړم پرچا باندی فریاد کم — چاته خاوری پر خپل سر باندی بادباد کم
چاته وگورم په څه شی زړگی ښاد کم — دصیاد له لاسه چاته عرض وداد کم
څه را وسوه چه دتور قفس بندی سوم
نه خلاصیږم په دابند کی ابدی سوم

ولی زه له خپله سیله را جلا سوم — ولی زه دخپل وطنه را جدا سوم
ولی زه په ویر اخته په واویلا سوم — کور وکلی می سو پاته خوار تنها سوم
کم ظالم کړمه بندی خدای دی بندی کی
خدای دی ماغوندی اخته په جدایی کی

اوس به زه لکه هانور په هوا تلمه — په هوس د آزادی به نازیدمه
پر غنچو به د گلانو مسید مه — روځ په ورځ به غوړیدمه لوبیدمه
چابندی کړم خدایه تې په ځان اخته کړې
په قفس کی دزندان ځگر سوخته کړې

اوس به گرزیدم آزاد په چمنو کی — الوتم به په صحرا او په باغو کی
ښه به گرزیدم خوشحال په شگوفو کی — ولی اوس یم په غمو په اندیښنو کی
چه بندی دی دقفس کړم صیاد
خدای دماغوندی بندی که ای آزاده

الغرض چه ده وهلی دا ناري د قفس له لاسه ؤ په غلبلې
چه ناگه د چمن باد راغی د کښې چه پر ونښت دا یې ووا ته له خو لې
مگر دا باد د چمن له خوا راغلی
چه یه زما صبر وآرام راڅخه وړی

یو ساعت متفکر ؤ حیران پاته نه یی شکر و شکایت کاوه و چاته
چه بیا باد دچمن راغی دده خواته آه یی وکیښ عرض یی وکی خپل مولاته
لکه زه هسی بندی شی اې صیاده
د وطن په جدایی شی نامراده

زه چه فخر دچمن زیب د بوستان وم نغمه خوان د خپلی ځالی او اشیان وم
دباغو دښو باغچو روح روان وم دسرو گلو پر ښاخو به ثنا خوان وم
دفولادو په پنجه کی دی بندی کړم
دهر کس ودنا کس دی ریشخندی کړم

زه به تل دباغ پر سر ښه په هوا وم ښاخ پر ښاخ به بیا په څه نازوادا وم
د گلانو پر سر و به په خندا وم په ځالی کی به وم ناست یا په صحرا وم
نه بندی وم دقفس نه می هیڅ غم ؤ
نه می اوښکی بهیدې نه می ماتم ؤ

چه سحر به زه له ځالی په هوا شوم په گلشن کی به دعشق نغمه سرا شوم
چه له ښاخه به پر گل باندی راتا شوم یا سمن و یا سمین ته به گویا شوم
آیا څوك لری داعیش وعشرت نن زما ؟
چه ندیم و گلخانه ده په چمن زما !

❀ ❀ ❀

اوس بیا گل او پسرلی هغه بهار دی دنرگس اوشکوفو گرم بازار دی
دطوطیانو په گلشن کی چنهار دی په چمن کی د بلبلو چغهار دی
پر گلانو الوته کا په خندا
زه بندی یم د قفس او په ژړا

زړه می ډك دی سره چوی دارمانه خدایه ژرمی خلاصوی له دې زندانه
نور می مه پریږدې په دې ځای کی سبحانه بیا می ور سوی ژر تر خپل بوستانه
که دی زه یمه قفس ته پیدا کړی !
بیا وزر د ولی ماته دی را کړی ؟

څو تر څو به یم پدې جور وستم کی څو تر څو به یم په آه و په الم کی
څو تر څو به په ژړا یم او په غم کی څو تر څو به یم دا رنگه په ماتم کی
چه امیدمی دخلاصی نشته هیڅ کله
نو بهتر دی مرگ تر دې ژوندیو پسله

بیا نو چپ شو یو ساعت په تامل شو زما خیال دا سو چه دغم په تحمل شو
بیایی ناری کړی همرازه دسور گل شو ویلی آه چه د صیاد لا تغافل شو
ځان که مړ چه دذلته نجات مومی
په گوښه کی دعدم به حیات مومی

که څه نه دی ښه وماته پدا شان مرګ — ولی ځوان یم او د ځوان وی د ارمان مرګ
خودژوند د پاره ښه دی نا ګهان مرګ — په هزار ځله بهتر دی تر زندان مرګ

چه د اهر سحار خپل مرګ په قفس وینم
ولی نه مرم چه به بیا زه قفس وینم

په حسرت او په افسوس یی دا ویله — و ګلشن ته یی کتل بیا یی ژړله
د قفس و در وا زی ته یی ځغستله — لا ر یی نه و ه وزر و نی سر پوله

په هوا سو سر یی و نښت له قفسه
وینې توی سوی سوړ پوړ ولو ېدله هوسه

سر تر پایه په سرو وینو کی غرقاب ؤ — ځان بایللی زړه زخمی حال یی خراب ؤ
یا بیهوښه یا پر هوښ په اضطراب ؤ — چه پر هوښ به سو ګویا نه په دا باب ؤ

سر می بایلو په هوا د آ زادی ! !
شکر شکر سوم فدا د آ زادی ! !

* * *

د پښتو ستاینه

درضوانی د قصیدی ترجمه — بناغلی عزیزالرحمن خان

پښتانه په جنګ کښ نلری سیا لان — په دښمن ور ځی مدام لکه ز مر یان
پخپل کور کښ نرم زړی مهربان دی — خو په جنګ کښ دی د سخت زړه خاوندان
دوی په سد د سکندر نه ایسا ر ېږ ی — یاجوج کله دی قوی د د وی پشا ن
په دښمن لکه گر بته غو ټی کاند ی — ته به وا ئی چه په اصل دی پیر یان

دوی د تو روشر نګهار ته خوشحا لیږی — د د ښمن وینی شرا ب کښی افغان
د پښتون د دښمن غوښو ته تیږی — د جنګ وخت کښ چه پاس گر زی قجیرا ن
خدای د ساتی په امان له بدو ستر گو — د خیبر ځلمی هم واړه ا فر ید یا ن
پیښور، صوات وبنیر او په جیلاس کښ — تور یالی پښتا نه شته لکه با ز ا ن

هر پښتون تیا راجل یا عز رائیل دی — د انسان په خیر دښمن ته ښئی ځا ن
د د وی تو ره په هر لورده ځلید لی — لکه لمر چه ځلیږ ی په ټول جها ن
دوی په اصل خدای لوړ خلق دی پیدا کړی — لری ځکه پاس دغرو په سر مکا ن

له پیغو ره پا که ساتی لمن خپله — دعار خیری هر گز نه پرېدی په ځا ن
ښه ځوانی ښه ځلمی توب د دوی صفت دی — میلمانه او همسا یه وی په دوی گرا ن

دخوا را نو غریبا نو کوی مرسته
په وعده کښ یې هیڅ نشته این و آن

د استقلال جشن

د ښاغلي محمد عمر خان بلبل افغان و ینا

ده استقلال په پسرلی وطن گلزار دی ځمو نږ
خپلوا کی کار دی ځمونږ

پښتانه واړه خوشحال په لوی اختر استقلال جشن میلی دی پهر ځای دماغ سرشار دی ځمو نږ
خپلوا کی کار دی ځمو نږ

پښتو غیرت او همت پښتو وطن او عزت بل نوم نغواړی ده پښتو په نوم یاد گار دی ځمو نږ
خپلوا کی کار دی ځمو نږ

لوړ آزاد غرونه لرو لوی لوی ډاگونه لرو په شنو بڼړ و نو کښ بلبل گډ پچغار دی ځمو نږ
خپلوا کی کار دی ځمو نږ

تو ره قلم او سخا میراثی مال دی ځما په دې موضوع کښ همیشه شعرو اشعار دی ځمونږ
خپلوا کی کاردی ځمو نږ

ښکاره پرټوله دنیا زموږ د توری بریښنا ټل اومیوند ، خیبر ، پوینو سور گلزار دی ځمونږ
خپلوا کی کاردی ځمونږ

نن دی دوران دپښتو زمکه اسمان دپښتو چه ظاهر شاه غوندی پښتون ځلمی سر کاردی ځمونږ
خپلوا کی کاردی ځمو نږ

په غزئي ویښ شوجهان مړی د گور شهیدان «بلبل افغان» پشان بلبل چه پگلز اردی ځمو نږ
خپلوا کی کاردی ځمونږ

دخپلوا کی زېری

ښاغلي محمد گل خان «نوری»

زه بیده په خواږه خوب وم د سهار خبر نه وم د دنیا په کار و بار
پرماږ غ سوځله پروت ئې په خمار ماهم سرژر را اوچت کی په تلوار
چه کتل می یونیکه ووبل می پلار

نیکه ووې ای زما دباغ نهاله راغلم زه چه ځان خبر کړم ستاله حاله
ماخبر کړه په ښه شان له خپل احواله څه دی حال دی یې خوابدی که خوشحاله ؟
پر آرام ئې یا اخته ئې په جنجاله ؟

پلارمی‌ووې څه احوال مو دملت دی ؟ اتفاق ، بې اتفاق که اخوت دی ؟
په‌تکلیف که‌په‌زحمت که‌په‌راحت‌دی ؟ ترقی که تنزل که په ذلت دی ؟
راته وایه ای زویکه څه‌حالت دی ؟

ماوې اې زما بابك او نیکه جانه شکر شکر یم خوشحاله هم خندانه
زموږ ملت ټول پریوه لار دی روانه په‌خوله یوپه زړه کی یوپه ټینګ ایمانه
هیله سته چه ترقی کړی تراسمانه

شکر شکر پر وطن مو قراری ده هم پر لویو او وړوښه ارامی ده
سر له سره پرموږ ښه یښګلوی ده یو دبله مونن ډېره خوا خوږی ده
زماپرورور دورورپرما مهربانی ده

نه پر چا باندی د چا منت باری سته نه‌څه‌غم نه‌څه‌زحمت‌نه څه‌خواری سته
نه پر موږ باندی دبل چا باداری‌سته نه موبغض نه عناد نه شیطانی سته
ټوله یو یونه زموږ بې اتفاقی سته

پلار وې ټول دا برکت داستقلال دی چه وتاسی ته درکړی ذالجلال دی
استقلال مو د ملت دتندی خال دی ددولت اودحکومت ښایست جمال دی
بېغمی موچه په آل او په عیال دی

استقلال دی موږ په وینو درګټلی هسی نه چه مفت وړ یا تاسی موندلی
بیا له پسه مو وتاسی ته سپارلی بیا مو ښو مړو عسکر و درساتلی
بیا زلمی با چا وتاسی ته روزلی

اې زما دستر ګو تور د زړګی سر وخپل ور و نهو ته و وایه زموږ خبر
ځان معلوم کی په دنیا کی لکه لمر ښایسته کی ځان په عقل په هنر
نن‌له سیاله سره ځان کی برابر

یومو دین یومومذهب یومو ایمان دی یوالله یومو پیشوا یومو قران دی
یومو قول یومو عهد یومووجدان دی یوملت یومو دولت یومو سلطان دی
یووطن یومو مسکن افغانستان دی

نن‌له خپله پاك وجدان سره قسم کړی په‌خپل علم‌و په‌عرفان موځان آدم کړی
په کمال کښ ځان‌له نورو سره سم کړی دخپل ځان ښایست په‌توره په قلم کړی
لومنی اوخودبینی له ځانه کم کړی

بیا ویل ئې اې زما ګله نوری ! درکو و د استقلال مبارکی
مبارك موسه اختر د خپلوا کی ! وڅښتن و ته تل دا کوی زاری
تل دی وی افغانستان او خپلوا کی

منثور شعر

استقلال او آزادی

بیقافیې شعر

ښاغلی قیام الدین خان «خادم»

(۱)

و ګوری دغه وړې وړی مرغی خومره خوشحاله دی ؟ دوی په خپله خوښه جوړه غوره کوی . په اتفاق سره دجالې ځای خوښوی ؛ جاله جوړوی! بچی پکښې اچوی؟ اوپه مینه اومحبت یی پالی !

په خپله خوښه سباله وخته پاڅېږی . دونو په نریو نریو لښتو دپاڼو په مینځکښې دخپلې جالې سره د بچیو په خوا کښې ناستې وی. اوپه خوږو خوږو نغمواوآوازو زمونږ سامعه نوازی کوی !

دوی خومره په بشاشت سره اخوا دېخوا الوزی په پټیو کښې وا ړه واړه اوجات جلت ټوپونه وهی - او دځان اودبچیو دپاره خوراك لټوی !

رښتیا چه دوی ډېرې خو شحاله دی - او دا ځکه چه ازادې دی !

❀ ❀ ❀

(۲)

دغه دزاڼو سیلو نه ګو ری چه په منی ښکته اوپه پسرلی ورته ځی ؟ دوی خومره مسعودې دی ؟ - یخنی په تودو ، اوګرمی په یخوایلبندو تیروی - په هوا ښکلی ښکلی قطارو نه جوړوی . یوه په خپله خو ښه دلارې مشره کاندې ؛ اونورې ورپسې ځی که هغه ستړې شی؛ یا - لاره غلطه کاندې ؛ نوزر بله وړاندې شی !

دوی په خپل ژوند کښې خومره ښه نظام لری ؟ څه خوږ حیات تیروی ؟

دزاڼو سیلونه پهواتیرېږی. ښایسته ښایسته نارې وهی! واړه واړه کوچنیان ورته له کوره راوځی ؛ اود سرو زرو کټوری ورڅخه غواړی! - اودهریوه په زړه کښې داتیرېږی چه « کاشکې زه زاڼه وی ! اوپه دغه سیل کښې الوتی ! ! ! »

هو ، دوی ډېری مسعودې دی! - او دا ځکه چه دخپلې خوښې دی ! ! !

❀ ❀ ❀

(۳)

دشنې فضا یخې یخې رېښې چه سپار دو خته را الوزی ، خومره نیکبختې دی ؟

د سبا په خوشگواره وخت کښې په لو ړو ژورو پرزی ولاړېږی ، دګلانو په رنګارنګ چمنو ، ورو ورو ګذر کوی، دکوکیو خوشبوئی اخلی تیرېږی - اودهغه ګنبدنو قرمزی شوندې اوګلالی اننګی مچې کوی ، چه په سره سالو کښې دبام په سر سانګې وانګې پرتی وی !

هغه : چه زرګونه زړونه ددوی دوصل په آرزو دشوې دپاڼو په شان رېږی ! ! !

صحیح ده چه دارېښې ډېرې نیکبختی دی ، اودا ځکه چه په خپل اختیار دی ! ! !

(٤)

دسیند ماهیان چه دسیند په هره خوا کښ گر ځی ؛ څومره دژوندانه له مزې څخه محظوظ د ی ؟ :- په ژورو اوشنو ډنډونو کښ ، چه ته به وایې ویلې کړې فیر وزې دی په تېزو چړونو کښ ، چه اوبه په شوق اومستی سره ښکته پورته کېږی : اونغمې کوی ؛ په جگوجگو آبشارونو کښ چه اوبه دسیالې نقرې په څېر زیب کوی ! -

هرچېری چه وغواړی دانگونه وهی اود رومی ! - ټولی ټولی جوړوی . څیړی څیړی روان وی . دخپلی سینې په زورددریاب زړه څیروی؛ اوچه خوښه یې وی هلته اوسی !- دوی دژوندانه څخه پوره خوند اخلی ؛ او دا ځکه چه په خپل واك دی ! ! !

نو ای استقلاله ! - ای ازادی ! - مونږ تاپېژنو !- ته یې ژوند اودژوندانه محصول ! -

بی له تاژوند ، یولفظ دی ، چه معنی نه لری ! -

یا - دړسام مڼه ده چه نه بوی لری اونه خوند ! -

دآزادی ستوری !

ښاغلی عبدالرزاق خان «فراهی»

په آسمان کښ و ریځ ده ، شاوخوا دوړی دی هری خواته لوخړه پورته کېږی . کله دتالندی او کله دپېلبو زغ اروېدل کېږی ، وائی دآسمان ستوری خورا ډېراوترشمېر تېردی هرڅوك اوهر تېر ځانته یوستوری لری، خودلته د وریځی په مینځ کښ یوروڼ ستوری دی چه ځلېږی، دلته دیو لوړ غره پر څوکه یو کښلی پیاوړی زلمی چه په تندی کښ ئې دسعادت و ړانگې ښکاری، ناست دی چه ددې آسمان ننداره کوی ، او ودې روڼ ستوری ته په ځیرځیر گوری ، لکه یو مین چه و خپلی محبوبی ته گوری ، یالکه پټڼ چه پر ډیوه اوبورا پر گل ټپریږی خدای یه !! ددې زلمی څنگه اغېږه نا که سترگی دی اودا څوك دی چه دده په سترگو کښ دا ستوری ، ډیر روڼ اوځلانده ښکاری داپښتون زلمی دی چه ددې جگ غره پر څوکه ناست دی اوودی ستوری ته گوری، دی پردې ستوری، مین دی ، ولی ؟؟ ځکه چه دا ستوری دپښتانه دآزادی- ستوری دی اوتر څوچه پښتون په دنیا کښ وی داستوری به ځلېږی ،ا وهرومرو به یی ځلانده ساتی ، ځکه چه دا ستوری دده دافتخار اوویاړلو پانگه ده، داستوری څه بولی ؟؟ دا د پښتانه دآزادی- ستوری دی، هو-رښتیادا خولوی شی دی ؟ ؟ داخوددې ټولو آریائی کښلو وگړو چه ددې جگو غرو په مینځ اوپه تورو کېږ دیو اوپه آزادو ډگرو کښ اوسېږی اوپښتانه نومیږی، روح دی، داستوری یوازی د دې ژوندو روح نه دی، بلکه ترمځکه لاندی په دې خاوره کښ پټ مړونه پراته دی چه هغوی هم ددې روڼ ستوری سره مینه اود زړه تړنه لری ، اوددې ستوری ننداره کوی، ځکه دا پټ مېړونه هغه پیاوړی ځلمیان یاپه بل عبارت هغه زمریان دی چه دغه روڼ ستوری ئې هروخت پاللی اورو زلی دی نوموږ به ترکم وخت چه دا شینکی آسمان ولاړوی ، هرو مرو دا ستوری ساتو څرنگه چه یو پښتون خپل ټول نوا میس ساتی موږ به دادنیکونو دمېړانی نخښه یاپه بل عبارت خپل او خپل د راتلونکی اولاد دویاړلو هسکه علامه اودژوند لویه پانگه ساتو ! هو-هرو مرو به ئی ساتو !

د آزادی ورځ

ښاغلی صدیق الله خان « رشتین »

نه پوهیږم څه‌ئی وبولم ، اوپه څه‌تری تعبیر وکړم؟ داختر ورځ ورته‌ووایم که دقدر شپه؟ دسعادت‌لمړی‌ورځ‌ئی وبولم ، که دحقیقی ژوندون لمړی نیته ؟ دحیات بختوره ورځ ورته ووایم او که دعزت او شرف لمړی تاریخ ؟ په کوم نوم ئی وستایم داصلی او باشرفه ژوندون پښو نکې ئی وبولم او که دننګ او ناموس ګټو نکې ؟ رشتیا داده چه داتول نومونه ددې ورځی سره ښائی ، اوبې ددې ورځی نه دبلی یوی ورځی سره هم زیب نه کوی ، دانومونه یوازې ددې ورځی دتن ګانه ده اونوری ورځی تری محرومه دی . داورځ دنورو ورځو پشان نه‌ده ، هوا، نمر، سپوږمی هاغه دی ، آسمان ځمکه نه دی بدل؛ اما تأثیر بل‌شان‌دی په رڼااورو ښائی کښ ئې بل‌رنګ اثر پروت‌دی، ددې ورځی دنمر پلوشې ډېری روښانه اولطیفی دی ، په دی ورځ دنمروړانګی دآزار دپاره دنیاته نه راکوځیږی ، بلکه دد نیا تیارو ګوټونوته دکاڼاتو دنوازش دپاره ځان‌رسوی‌اولکه‌دسحر دنسیم دهر بوټی اوهرذیروح‌په‌مخ دمینی لاس راکاږی. ونی ، بوټی، باغونه ،چمنونه ، ګلونه‌ټول‌په دې‌ورځ تازه اورانه وی . ځکه چه دآزادی وږمه پری لګیږی . داوږمه دوی ته دحیات داوبو او دسحر دشبنم نه هم زیاته ده ، ولی چه دهغوی طراوت اوتازه ګی موقتی ، اوتریو وخته پوری‌وی ، اوداتازه والی همیشه اوتر عمره دی . داورځ هغه ورځ ده چه‌مونږ ته ئی نوی ژوندون ښلی دی مونږئی دحیات اوژوند په خوند پوه کړی یو ، ځمونږله اوږو ئی داسارت درانه پیټی‌غور ځولی او لیری کړی دی . په‌دی ورځ په مونږ کښ ساه چلیدلی او دژوندون په یوه نوی دوره کښ موقدم ایښی دی ، په دې ورځ ځمونږ ستر ګی روښانه شوی دی او دتورو تیارونه راوتی‌یو ، په دی ورځ ځمونږ روح د آزادی په فضا کښ ګرځیدلی اوآزادو خو ګوته ختلی دی . په دی ورځ مونږ دخپل اختیار اوواک خاوندان شوی ، اودپردو دتسلط نه خلاص شوی یو ، په دې ورځ مونږ په خپله خاوره اوخپله مینه وینی توی کړی ، او له سره دانګلی دی او دوطن ښکلی او تك سره ګلو نه مو په وینو خړوب کړی دی .

داورځ ځمونږ په تاریخ کښ ډېره لویه ورځ حسابیږی .

کانې، بوټی‌لاتراوسه ځمونږ په وینو رنګ پراته دی . ددې وینورنګ ډېرپوخ‌دی زمانه ئی نشی‌بیولی ، اونه‌ئی سیلی بادوباران محوه کولی‌شی ځکه دادقربانی دوینو رنګ دی . دقربانی دوینو رنګ‌ډېرپوخ وی ، داهغه ورځ ده چه ځمونږ بندیان طوطیان له پنجرو نه خلاص شوی ، او په هواشوی دی داهغه ورځ ده چه ځمونږ دوطن داسارت غرمووهلی غړنداو مړاوې بوټی او ګلونه تازه شوی اودآزادی په‌اوبو اوبه شوی‌دی . داهغه ورځ ده ، چه پښتنو ځلمیانو دننګ او ناموس دګټنی دپاره خپل ځانونه قربان کړی ، اودغلیم مخې‌ته ډال پلاس ودرېدلی‌دی . داهغه ورځ‌ده ، چه پښتنو پکښ خپله مړانه اوتوره دنیاته ښودلی اوخرګنده کړی ده ، په دې ورځ پښتنو خپل‌شرف ګټلی ، او خپله خپلواکی اوآزادی ئی ترګوتو کړی ده ، په دی ورځ ، ډېر ماشومان یتیمان شوی او بیبیانی کنډې شوی دی او پلرونو اومړونوئی دوطن په خاوره سرو نه ایښی دی . په دی ورځ دشهیدانو په پاکووینو ډاګونه ، او غرونه معطر اوتازه اوتك سره شوی دی په دی ورځ پښتنو دنارنیتوب اومړانی‌اوغیرت بیرغ‌جګ کړی اورپولی‌دی، لنډه داچه داځمونږ هغه تاریخی او مقدسه او بختوره ورځ ده چه مونږ ټول لوی واړه پری ناز یږو او فخر کوو . او ځمونږ دټولو دخوشحالی اوداختر ورځ ده . ددی ورځی احترام په‌مونږ ټولو لازم‌دی او راتلونه‌ئی ډېر هوسیږو اوخوشحالیږو . اوهر کال‌ئی په یادوجشنونه او خوشحالی کوو . تل‌دی وی دابختوره ورځ . تل‌دی وی دامسعود ساعت تل‌دی‌وی ځمونږ داملی جشن پورته دی‌وی ځمونږ بیرغ. اولوړدی‌وی‌ځمونږ دعزت مینار !

عشق

دخارجي مجلاتو څخه

دبناغلي يارمحمد خان «نظامي» ترجمه

عشق دپرېښتو سلام دی وستوروته !

د انسان دروح غم اوخواشينی هغه وخت لوړی درجې ته رسيږی چه دعشق څخه پيدا شوی وی !

پاك خدای دنيا دروح دپاره جوړه او پيدا کړه او روح ئې دعشق دپاره . . . . !

په کوم وخت کښې چه عاشق دخپلی معشوقې څخه بيرته اوجلاوی نو دنيا يوخيالی اوفرضی شی کښې .

عشق او روح ديوې ريښې اوله يوه اصله څخه دی عشق هم لکه روح غوندې نه فاسدېدونکی شی دی ، او نه تقسيم او ويش قبلوی ـ بلکه تل ترتله به وی .

عشق څموږ په طبيعت کښې يوداسی اوردی چه نه مری .

ددې اوردلمبې حد اواندازه نسته اودا اور کولی شی چه څموږ هم اوماغزه وسيځی ، که پاك خدای داوغواړی چه دوه عاشقان ډېر زيات نيك بخته شی نو هغو ی ته به ابدی عشق ورعطا کړی . . . !

دوه ستوری څکه خړ ښکاری چه تل ځلانده ، هيڅ نفوذ نه منی ـ ستا سو دوړاندی يو داسی ستو ری سته چه د هغه ځليدل اواسرار داسمان تر نوروستورو ډېر زيات دی ، چه دهغه ستوری نوم (ښځه) ده !

کوم کارچه عشق شروع کړی هغه کار بې خدايه بل څوك سرته نشی رسولی !

که تاسو جمادات ياست نودا کوښښ کوی چه د آهن ربا په شان شی .

او که تاسو بوټی اونباتات ياست نودا زيار کا ږی چه لکه گل ښايسته اودښايست خاوندان وباله شی .

او که تاسو انسانان ياست نودې ته متوجه شی چه دعشق مظهر اودښکاره کيدلو ځای ووينی . . . .

اې هغه خلقو چه تاسو دعشق په دردونو اومصيبتونو اخته شوی ياست ، دخپل عشق اورته لمن ووهی ، ځکه چه په عشق کښې مړينه يوجاويد ژوند دی . . . .

عشق دجنت دهوا څخه تنفس کول اوساه اخيستل دی!

معشوقه کيدل خولوی سعادت دی ، ليکن عاشق کيدل ترهغه نه هم ډېر لوی سعادت دی .

عشق دانسان په زړه کښې زړه ورتيا اوشجاعت پيدا کوی، دعاشق زړه ډېر نری اوله هر عيبه پاك اوسپېڅلی وی .

داراز زړه بې دعظمت اوارتقا څخه بل هيڅ شی ته تکيه نه کوی ، ناوړه اوبد افکا ر په داسی زړه کښې بالکل وده نشی کولی .

دعاشق په زړه کښې هوا اوهوس ځای نلری ، عشق ددنيا له دروغو او کينو سره اوله دنيائی ليونتوبه سره بيگانه دی ، يوالحی عشق کولی شی چه دژوندون اسرار معلوم کړی ، هغه ډېر بدبخت خلق دی چه يوازی اجسام اوجواهر ئې خوښ وی !

مرگ به داراز خلق دمعشوقې په ابدی فراق او بيلتون مبتلا کړی! انسان بايد تل دعشق دارواحو سره ددې دپاره لوبی وکړی ، چه مرگ پرهغه سلطه پيدانکړی.

که په دنيا کی عاشقان نه وای ، نوهيڅ شك نسته چه لمر به هم ورك شوی وای ! ! !

ع ، ج ، ا ، ا ، نبان والا حضرت سر دار شاه ولیخان داعلیحضرت وزیر مختار په
فرانسه اوسویس کی -

سبا

له آثارو څخه دشیلی دانګلیس نامتو شاعر

دښاغلی «بژواك» ترجمه

ته چیری ئې - اې ښکلې سبا ؟
هغه وخت چه موږ :- زاړه او زلمی ، غښتلی او کمزوری ، بدایان اوبې و زلی ، د خوښی او خواشینی

په لحظو کښې ستاخوږه خندا پلټو ، ستا پر ځای او ستا په عوض کښې هغه شی پیدا کوو چه له هغه څخه تښتېدلی یو .
هغه څه شی دی ؟ «سبا»

-وې ناره

اې نړی- ، اې ژوندونه ، اې زمانې !!!
اې هغه شیانو چه زه خپل اوستری قدمونه دختلو په لاره کښې تاسی ته اخلم اولوړ خپړم هم په داسی حال کی چه له ډاره څخه د هغه ځای چه یو کړی مخ کښې هلته وم رېږ دېدلم .
آیا هغه ستادلاسه تللی برم اولوئی به کله بیرته راسی؟

هیڅکله . . . . . اوه هیڅکله !!
دشپې اوروځی څخه فرحت او خوښی تښته کړېده پسرلی ، دوبی ، منی ، زمی زما زړه وغم او خوابدی ته ورکوی ! منګر داچه هغه ئې وخوښی ته وسپاری څه وخت به وی ؟؟
هیڅکله . . . . . آه هیڅکله

مړه بنفشه

هغه ګل چه وږمه یې لکه ستادخوشبویه مچی هوا زماروح سرلوړی کاوه ، خپله خوشبویی ئې بایللې ده .
هغه ګل چه خپله تازه ګی یې له تاخخه اخیستې وه اوستاپرمخ غوړېدلی وو، خپل رنګ یې دلاسه ایستلی دی.
اوس یومړاوی شی اوبیڅانه اوبې صورته شکل دی چه زما پرشینه پروت دی اوپه هغه زړه چه تر او سه لادغلی توب او پته خوله او سوړ تیاخخه تود، دی لوی کوی اومسخره ئې بولی .
ژاړم ، منګر اوښکی می نسوای کولای چه دا ګل تازه اوشین کړی.
آه کاږم،
منګرنور نسوای کولای چه هغه ورکه وږمه دی پیدا کړم ددې ګل دغه ګنګ متدارت لکه زما مقدارت داسی دی چه ترا بده شکایت نه کوی اونه غواړی چه ویې کړی .
«بژواك»

او ښکی

ښاغلی علی احمدخان نعیمی :

زړه ؟! په وار وار می ویل چه په انتخاب او غوره کولو کی به خطا وزی ، مګر څه فایده !
او ستری ته دمحبت اومینی تېزی او غولو نکی رڼا دده رونبی اوحقیقت لیدونکی سترګی رندې کړې ، نوناخاره په داسی ناوکی اخته شو، لکه یوه سره اوبې روحه دمرمر و مجسمه چه نوکی مهربانی اوزړه سوی پکښې نسته .
د لمړی- ورځی څخه می دده مینه او مراد خوشی وګنله اودی می بې تجربې اواسان خوښوونکی وباله .
ده دبیقیدی- اوخلمی توب پردګرنوی پل اینبی وو چه دمینی داسینی اودپولادو په خیړ کښېوونت؛ دده سترګی دنړی- پرښه اوبد لانوې خلاصی شوی له تو له څخه ئې سترګی پټی کړې اودده په مینه اخته شو .

هو کې ! دده ښایست او ښکلیتوب یې غړی سست اوبې وا که کړه، او داسی دمینی په کوهی اوګړی کښ ډوب شوچه بیایې هیڅ بوڼ وانه روېدل شو .

یوازی هغه ښایست او ښکلیتوب چه دځلمیتوب دتودو حرکاتو سره ګډ دی محبوب اوز ړه وړ ونکی کېدی نشی . که داسی وای، ننني کاریګر داسپنی څخه دا سی ښکلی اوښایسته بشر اوداسی نېغه ښکلې ونه ومیدان ته راباسی چه دبرېښنا دقوت په زورسره دسېنماد کاریګرو تر حرکاتواوخوځېدو څخه زرکوټی ښه ایسی .

نه ! هغه چه باید وشی، وشوه !....

اوس چه شا وخوا په وینو کی ډوب دی، او په یوه رپ کی دتپېدلو، او دارمان اوارمانجنو لاسو مښلوڅخه وز ګارېدای نشی، نوسرزنش اودرد به څه ګټه ولری؟

په ازل کی یی دده په برخه سرې وینی کړې؛ او په ژوند کی یې دراحت اوهوساتوب اوارامی په عوض کښ ناارامی اوتپېدل په زده کړه، په هررپ کښ څو کر ته تپیږی ، اوپه هروار تپېدلو اوخو ځېدلو کښ یو سوی ورسره دی .

دده دسوی څخه لکه لاله سره څا څکی څڅیږی چه پر هغویې «وینی» نوم ایښی دی .

اې زړه ! ته ډېر حساس یې! دبدن هیڅ غړی لکه ته داسی ژر نه ناجوړه کیږی! ته ډېره رونړه هندار ه یې، چه هره سکاسه که ښه وی که بد پرتاعکس اچوی ، ته دهرډول دردو اوغمو اوڅار وونکی یې! خوشحالی اوغم خوښی اوخوا بدی له تاڅخه څرګندیږی ـ کله کله چه خوشاله یې، نودبدن په هغه دوو نریو، نازکو سروعضلاتو او غړو کښ چه « شونډی » یې بولی یوښه ورینتوب اوخوځېده ولیده شی چه هغه ته «مسل» یامسېدل» وایی .

اوهر کله چه دیوې سختی اغېزی څخه دردمن اولمبه شې، نودستی دسترګو د ګوټانو څخه یوڅاڅکی شفافی اوبه دمرغلری په شان راتوی شی چه ستا اور په مړشی ! هغه څه شی دی ؟؟ اوښکی !!!

کله کله دډیری خوشحالی څخه هم اوښکی توئېږی چه دې ته باید دهیلی اوامید اوښکی ووایو .

دادوه تاوده څاڅکی چه دپاك زړه دسپېڅلی اوپا کو احساساتو څخه پیدا شوی او راوتلی دی په یوه دنیا ارزی!

دیتیم داوښکو یوڅاڅکی، اودچټی پیغلی داوښکو یوڅاڅکی چه درښتنی مینی په نامه په نیمه شپه چه چپه چپایی وی اودایوازی وی اود خمارو غټوسترګو څخه یې را توی سی، اوځلمی ښځی داوښکو یوڅاڅکی چه دا نه خوا خوږی ولری ، او نه د مخ دګرزېدو سړی ولری ـ ، اودځلمې مین داوښکو یوڅاڅکی چه محض دهیلی او امید دږغ په اروېدو سره پرخاورو توی سی، اویوڅاڅکی اوښکه چه دخوارکی مور دسترګو څخه دیوه ځلمی زوی دمرګ په وخت کی راولویږی، اویوڅاڅکی اوښکه چه د جنایت کاره دسترګو په ګوټانو کی دترټلو په وخت کښ دپښېمانی اودافسوس پرډول ورغړی ډېری ګرانی او دیوه کیف څخه ډکی دی .

❀ ❀ ❀

سړی دا وښکو څخه پیدا ، ا وښکی د مینی څخه، محبت اومینه دزړه څخه زیږی !

اوه ! اې زړګیه ! که ته نه یې، مینه نسته ، که مینه نسته . نوښېګړه او نېك مرغی نسته ـ که نېك مرغی نسته نوژوندون به څه شی وی ؟

هر کله چه داسی! نوته هم نېك مرغه اوسه او خپله مینه ترپایه ور سوه! که هغه بې وفا وفاونه لری، اوپرتاهم دجفالب نه کوی، نوپه ازار یی وسېزل شه اودمینی سره یې جوړه وکه !

وژاړه ! اوښکی تویی که ! ځکه چه اوښکی دمینی نښه ده او دژوندون مېوه ده .

داستقلال ساتنه دوطن دوستی نتیجه ده

ښاغلی یار محمد خان «نظامی»

هر څوك داستقلال په معنی پوهېږی ا داستقلال له ښېګڼو څخه انکارنشی کولای په تېره بیا هغه ملتونه چه وطن دوسته وی.

زموږ دملت له بهتر ینو میراثو څخه یو میراث وطن دوستی ده چه دپلرو اونیکه ګانو څخه موږ ته را پاته شوې ده اوهم ددې ارث رڼا او اثرو چه دا غیور ملت تر ډېرو ربړو او پریشانیو وروسته وکولای شوه ، چه خپل ټوکر ټوکر اعضاء بېرته راغونډ اودملی وحدت په مرسته ئې خپل زوړ برم وموند .

که زموږ په ملت کښ د وطن دوستۍ دښه حس ریښه نه وای اوتېرونیکه ګانو وموږ ته دا حس نه وای را پریښې نونن ورځ به د هغو ضربو په اثر چه موږ په وارو وارو د اجانبو له خوالیدلی دی زموږ ملیت نژاد ، ژبه اونور ملی شئونات به بېخی ورك اونابود وای مګر بیا دپښتنو غرنی وطن دی چه دادونه سخت ضربونه ئې ولیدل او دزمانې ترخې ئې وڅکلې ، ډول ډول زحمتونه ئې وګالل اوسره له دی ټولو ناوړو لا هم دې شجیع ملت دوطن دوستۍ اودخپلی آزادۍ دعشق په سیوری کښ داټوله آفتونه محو کړه چه الحمدالله نن په خورا لوړه غاړه ددنیا دژوند یوملتو په ردیف کښ ژوندون کوی اوهم به ئې له دې وروسته وکی .

هغه ملتونه چه لوړوالی او ترقی غواړی هر ومرو خپله خاوره خپل وطن هم باندی ګران دی اوپه هر قیمت چه وی استقلال ئې ساتی پستی ته او دبل ترلاس لاندی ژوندون ته په بده سترګه اوډېر نفرت ګوری- نوموږ پښتون ملت ته ښائی چه خپل شیرین وطن دزیار اوزحمت په اثر ولوړ عظمت ته ورسوو ترهر څه دمخه باید دوطن سعادت په نظر کښ ونیسو ، ځکه چه ترهری نیك مرغی ښه اوتر هر عظمت او افتخار لوړ دوطن عشق او او علاقه ده، اودوطن دوستۍ ترحس ښه شی سعی، عمل اوجدیت دی چه داستقلال او آزادۍ دساتنی د پاره وشی اودهر ملت افتخار دوطن داستقلال اوعظمت پوروړی دی.

دټولو رستګار یو سرچشمه اوترګردو امورو ضرور شی دپوهانو په نزد «وطن دوستی ده» اودهم دغه وطن په غېږ کښ لویوالی شرافت اوعلو پیدا کېږی ،نوتر هر څه دمخه باید وطن ګران وی اوخپلوا کی ئې خوندی شی .

پوهانو ویلی دی :- چه دوطن قدرد مور په شانی کوی لکه پر صالح اولاد چه خپله مور ګرانه وی اوخدمت ئې پر ځان فرض ګڼی تاسی هم دوطن چوپړ پر ځان لازم وبولی

داهم بایدوویل شی چه د وطن دخپلوا کۍ ساتنه داتحاددو سیلو په راغونډولو سره ده اودملت په ښو اخلاقو پوری تړلې باله کېږی . هغه ملت چه دفضیلت ښه اخلاق ولری نو دااخلاق ئې مجبوروی چه داستقلال ساتندوی اودخپلی خاوری نګهبان شی - اوله هرراز آفاتو څخه ئې وساتی .

دوطن د شئوناتو خوندی کول صنعت اوعلم زېږوی اوهر ملت چه حمیده اوصاف ولری ، نومنلی شوې ده چه په خپل قوت به دنورومللو زنګون وخپل ځانته کت کی-

دهمدغه وطن دوستۍ برکت دی چه د یوه مملکت زامن کولای شی چه ولوړو ښوښو مدارجوته وخېژی -

له ښه مرغه دپښتونخوا دملت په خټه کښ دوطن دوستۍ حس اخښلی شوی دی اوپښتانه پوهېدلی دی چه یوازی دوطن او استقلال په لمن کښ دشرافت اوپت ژوندون شته اوبس . . . !

هر ملت چه له دې نعمته محروم وی ژوندون ئې تریخ اوحیات ئې بې قدره وی.

خپلوا کی دپښتونخوا دوی ترتل

ښاغلی برهان الدین خان « کښککی »

مبارك مو شه بیانوی پسرلی د خپلوا کی

دغه جشن اودانشاط اوداخوشی دخپلوا کی

خپلوا کی سره د خپلو هغه معناوو اولوړ مفهوم چه ئی لری ، د خلقو په ماغذو او عواطفو کښې ډیر لوړ ځای پیدا کړی دی . او په ننني تعبیر ژوندون ئی د خپلوا کی دنعمته څخه یوهېرشوی نوم دی، اویوبی معنی او چټی لفظ دی .

مرگ پر داسی ژوند ډېر فضیلت لری ژوندون دتوری اودخپلوا کی دنعمت ترسیوری لاندې مزه کوی! او د عزت او وقار ژوند د سرپټوب لمړنی شرط بلل کیږی .

خپلوا کی چه د شرف او ملی شئوناتو ساتندویه ده اود هغونعمتونوڅخه شمېرله کیږی ، چه سړی ئی تعریف نه په ژبه اونه په قلم کولی شی . بلکه دالوړه معنی او عالی مفهوم ښائی په لویو ککرو اورنوماغزو او وینو افکارو کښې ولټول شی .

خپلوا کی د عزت او شرافت حامی اود ژونداوښه والی ساتند ویه ده ! او ملی افتخارات د جامعې او مینې اعتبار اود کورنی پت اوحیثیت ساتی .

استقلال اوخپلوا کی د پرمخ تگ او د ترقی خوځونکی او محرك دی؛ او د خوشالی او خو شبختی د کامیابی لارې راښئی .

خپلوا کی سړی درښتنی ژوندون په معناؤ باندی خبروی ! اود سړي توب او بشریت په نړی کښې د پېژندلو لمړی وسیله شمېر له کیږی ! او جامعه دگمنامی د کندی څخه را وباسی .

خپلوا کی د ملت دامنیت اوراحت وسیلې راغونډوی!

خپلوا کی سرپټوب ، او شرف، پوهه ، ژوندی رو حیات ډاډه زړه اود ترقی ماغزه رابخښی ! او د سرداری او خانی ښونکی ده خپلوا کی یو سړی یا یوه جامعه او یا یو ملت ډاډه گرزوی او د ځان باور ئی ور زیاتوی .

دخپلوا کی غیرت ډېر لوړ دی او سړی نه پریږدی چه د ژوندون د ښېگڼو څخه بی برخې پاتې شی !

ژوندی او مستقله جامعه د نور وترسیاسی ، اقتصادی او اخلاقی تاثیراتو لاندی نشی راتلی !

اې خپلوا کی پښتونه! چه د داسی لوړ نعمت څښتن یې ! یقین و کړه چه داد تولو ښېگڼو او فضایلو چینه او خزانه ده او د ژوند تولی پېښی او سرشتې او ادارې وهغې ته اړتیا لری !

هو ! خپلوا کی د تولو په سترگو کښې عزیزه او گرانه ده ! اود عزت ځائی زړه اوماغزه دی .

هغه زړه ورپښتانه چه د خپلوا کی دنوم په ارویدلو ځان په ډېره مینه اوخوښی سره دهغې د ساتلو اودفاع د پاره سوب او حاضروی اود حمایت د پاره ئی زیار کاږی او کوښښ کوی ، موږ باندې دومره گران دی چه اندازه ئی نشته او کولی شو چه د ځان په اصالت اود ملت په وکالت ، دپښتنوالی دمینې دډکو احساساتو ترجمانی وکو او په دې لاندینیو الفاظو خپل ځان جارول او فدا کاری د خپلوا کی ، د شرف د ساتلو په لاره کښې بیان کو او ډېره ډا ډینه او اطمینان اوخاطرجمعی ورته ورکو :-

اې خپلوا کی! اې ځمونږ دپښتنو غیرت اونامو سه ! همغسی چه موږ خپل دین او مذهب سره ټینگه اړه ، علاقه لرو او د اسلام دمقدس شریعت پیرو یو ، ستا دحقو قو دفاع او ستا دشرف دحفاظت په لاره کښې هم خپل ځانونه

جار اوفدا کوواوستامینه دخپل ایمان جزء بولو ! او هیڅکله به دهېرنه کړو !

اې ځمو نږ په زړه پوری انیس اومونس ! اې ځمونږه محبوبه خپلوا کیه ! دموږ داوعده سر سری او او سنۍ نه ده چه تاسره ئی کو و، بلکه دډیر وتېر و ز مانو را هیسی تاسره ځمونږ همدغه و عده ده ؛ چه ستا سا تنه به تر آخری سلګۍ پورې کوو ؛ څنګه چه کړې مو هم ده !

هو کې ! مونږ دهمغو مشهور وبهادرانوا وغیر تیانو اولاده یو چه فدا کاری او سربازی د هغوی طبیعی غر یزه وه ، او دناموس ، او دوطن دخپلوا کی ساتنه ئی لمړنی مذهبی فرض ګڼل ، ستاد ځا منو دژوند پیښو او سوا نحونه څر ګند یږی چه ډېری فتحی او خد متو نه ئی کړی اوستاد خو شالی اسباب ئې تل تیار او حا ضر کړی دی !

تا ځمو نږ دملت پلار ستر ټولواك (احمد شاه بابا) لیدلی دی، ته په دغزنوی (محمود) (او محمد) غوری اونوروفدا کارو پا چا ها نو خدمتونه دقیامت ترورځی پوری هېره نه کړی دپښتونخوا دنو میالی وزیر میړانه او زړ ورتیابه د هېره نه شی او بالاخره هغه کوښښونه ، او فدا کا ر ی چه ددې خاورې فدائی ځامنو ستا د حقوقو دبېر ته ا خستلو او استر داد په وخت کښ ستا فدا کار ځوی لوړ درشل غازی ټولواك (محمدنادرشاه) ترقیادت او هدا یت لاندې یاد ګار پرېښی دی ؛ په هیڅ صورت هېرېدونکی نه دی

نواې دموږ دسرلوړی نښی ، خپلوا کۍ ډاډه او خا طر جمع اوسه چه موږ دهمغو لویو اوبهادرانو ځامن یو ؛ دغیرت اوپښتنوالی وینه په موږ کښ په ډیره تودو خی اوتېزی ښکته پورته کیږی ؛ تا دژ وندون ترو ر وستنۍ سلګی او احترام پوری ګران او عزیز ګڼو او پخپلو وینو تا ساتو اوستا دفاع کوو . ځان مو تا څخه جار او مال موستادرضانه قربان !

اې ژوندی اوغیرتی اولس اوملته ! ستاسی خوشالی دتل ، ترتل ، اوخپلوا کی مودایمه اوهمیشه وی ! دداسی ښو او دخوشالۍ دورځو او دداسی افتخارا تو ښه استقبال اوښه ښه راغلی و کړی ، اودوطن د خپلوا کی په خوښی اوخوشالی سره یووبل ته ښه راغلی و وایی ! او د خپل زړه احسا سا ت چه د خپلوا کی دسا تنی په لاره کښ ئی لری، په ښه صورت وښیی ! د مشرا نو خبر ه منل (اطاعت) اود . کوچنیانو سره مینه او شفقت و لری ! اوپه دې وجه خپل جشن لا ښه وګر زوی چه دعشرت او افتخار اوخوشالی ورځ ده !

اې پښتنو و روڼو ! تاسو لره ښا ئی چه تل تر تله پخپلوا کی او په ناموس او میړا نه ژو ندو ن و کړی او دخپلې خپلوا کی لوړ موقعیت ښه وسا تی؟ ! ښه متحد اومتفق اوسئی !ا ودهمدردی اویووالی څخه کار واخلی!. ترهغه چه خپلوا کی ستاسونه خوشاله اووطن مخ په وړا ندی لاړ شی !

په پای کښ دخپلوا کی د شهید انو په حق فا تحه لولو ؟ اوخپلې مبار کۍ اواحترام دخپلوا کۍ دساتندوی حکومت په حضور کښ بیانوی کوو ! اودمېنې دخپلوا کۍ اوترقۍ نورو علا قه مندانو ته هم دمبار کی عر ض کوو او ددې خاورې دشرف دوام اوداولس و ړا ندې تګ تل تر تله غواړو ! .

ژوندی دوی دافغانستان ملت !

تل دوی دپښتونخوا خپلوا کی !

ژو ند ی دوی لوړدرشل ټولواك « محمدظاهر شاه » دپښتونخوا خپلوا کی ساتونکی ټولواك !

استقلال

ښاغلی غلام رحمن خان « جرار »

دهوا بندیوانه مرغۍ دښکاری په پنجره کښ ولې تر ورې تروري او ترپرۍ ترپرۍ ترپکې وهی ؟ اوبیاولې په قرارنه وی چه کله دپنجرې له یو سوری څخه سرو کاږی او کله له بل ؟ دې ته خواوبه تیارې اودانه تباره رسېږی نوبیا په څه داسې ګرده ګډېږی لکه چه داورپر ځمکه ولا ړه وی . دائی څه شی ورك کړی اودا ولې اوداڅه لټو ی ؟ په دې خوناترسه ښکاری هغه آزاده فضااوهارته هوا زهر کړی چه په خلاصو وز رونو به هرلورته په کښ الو تله !

نواوس ئی هماغه هارته‌هوا او خلاصه فضا په‌زړه گرزی اودپښولاندې ئې داور سرې سکروټې دی څه وکړې ؟ ژبه‌خوئی نشته‌چه‌دازادۍ په‌یادودسوی‌زړه تنا کې وچوی اودخپل زړه‌له حاله ترجمانی وکړی . توبه‌له‌داسې زړه چه‌لمدې غوښې ئی‌لااورنه اخلی !

باز گنډلی سترگې دچگس پرسرڅه چرت وهی ؟ اودکوم‌خیال په‌دریاب کښ غوټې‌وهی؟ پرزړه‌ئی دلوړو غروڅوکی اودتړوازادانه ښکار اوری ولې‌څه وکړی چه سترگې ئی گنډلی‌اوپه‌پښو کښ ئی‌داسارت پیکړی پرتی دی اودښکارسوده دچگس په‌وچ لرگی کوی چه په تېرو نوکو کښ ئی‌نیولی دی ! ! ! ! ! ـ ! !

څه شوې دحقیقت سترگې او کوم دی د انصاف غوږونه چه پر دې وپوهېږی چه‌دهوا مرغان د اسارت په‌ژوندون ترکوم ځایه متاءثر دی اوپه دې ژوندون ئی دژوندانه‌په‌فهرست کښ‌خط راښکلی‌دی اودازادانه‌ژوندانه په‌ارمان اویادو کښ‌پرې ځمکه سره‌تیی‌ده . نوایا دصحیح احساساتودڅښتن اودعقل‌والا به‌په‌دغسې‌حالت کښ څه حال وی ؟ نودی خوباید چه‌یاځان ژوندی‌په‌ځمکه ومنډی اویا خودبې‌لارې اسمان‌ته‌والوځی ! دانسان کلك پوټکی‌دی نه‌په‌ځمکه ننوزی اونه‌اسمان ته‌الوزی هرڅه چه‌وی پرې تېرېږی ! نوبیاچه‌دڅښتن‌په‌لویه‌مرسته اوتېره‌توره‌داسارت زلونې‌ماتې اودغیرت اوشجاعت‌په‌پنجودغاړې‌لومه وشکوی نو آیا دی به‌بیاد اسارت ځنځیر غاړی‌ته‌پرېږ دی ؟

اې دپښتنو ځامنو ! ای دپښتنې په شودولوی شوو ! تاسې که دتاریخ په‌پاڼو کښ دخپلو نیکونو هغه رولونه وگوری چه‌دخپل ژوندانه په‌دوره کښ ئی د خپلې سیمی دازادۍ اواستقلال‌دپاره لوبولی ، نوتاسی به هغه وخت دپښتو نولۍ په‌رمز اوښېگڼووپوهېږۍ . نن‌چه‌تاسې‌هسکی سترگې اوجگه غاړه‌دسیالۍ په‌ډگرناست‌یاستی‌بل‌څه نه‌دی داستاسې دنیکونو دوینو برکت دی چه دوطن دسپېڅلی خاورې دساتنې‌دپاره‌ئې بی‌مباح توی کړی‌دی . استقلال په‌حقیقت کښ ستاسی‌دنیکونو اوپلرونو دوینو محصول‌دی . ازادی‌ستاسی دپلرونو میراث او کنډه ده پښتانه پخپله کنډه ځان وژنی اوبل‌ته‌ئی نه‌پرېږدی . استقلال ستاسی دنیکونوله‌وینو اومیندوله‌شودوسره‌خلط‌دی . نن‌چه دوطن په‌خواو شاکی داسره گلونه گوری دائې دوطن دهغو شهیدانو دوینو عکس اخستی چه‌دوطن‌دپاره توی‌شوی‌دی داسمان سرو لمنو هم دشهیدانو له‌وینو غلا کړی ده . پښتنو ! تاسوهم دهماغو نیکونو حلالی پرگه یاستی باید چه‌دخپلو نیکونو دوینو محصول وساتی ! هغوی وگاته ، اوتاسی‌ئی‌وساتۍ دازادی دنعمت قدرو کړۍ ! داسارت ژوندون ، ژوندون‌نه‌دی له‌اسارت‌له‌ژوندانه مرگ‌ښه دی مخصوصاً دپښتانه‌په‌مذهب ! پښتون‌ئی‌په‌ټیټوسترگو نه‌خوری پښتون دبل لاس ته‌نه گوری ! پښتون غلامی نه قبلوی ! لکن داواړه په‌اسارت‌پوری تړلی‌دی . پښتون‌خپل‌غیرت ناموس وجدان به‌چانه گډوی ازاد قوم دی ، مستقل ژوندون کوی .

پښتنو ! نن‌چه‌دوطن په‌هره‌خوا کښ داډول ډول نمایشات ښوول کېږی‌اودځمکې مخ‌دچراغانو اوډیؤو په‌رڼاد ژمی له‌ستوروډك آسمان رایادوی په دې پوهېږی ! دا دهغه کالنې استقلال‌پذیرائی‌ده‌چه‌دنادر دتورې‌ښامار په‌اوسیلی دغلیمانو له‌پنجو خلاص کړی‌دی اومونږ ته‌ئی سپارلی دی داهغه‌نعمت دی چه‌په موږ کی ئی دصحیح ژوندانه روح پوکړی دی دادهغه جنت مکان دتورې ضرب دی چه‌له دهشته‌ئی دزمریانو په کلمو کښ اوبه‌نه وی تودې شوی . استقلال ځمونږ کالینی عزیز میلمه‌دی چه‌له۲۳ کالورا په ایسته په کال کښ یوځل‌دهغه دقدوم دپاره سترگی‌غوړؤو شهید محمدنادرشاه معارف‌ژوندی کړ، شورائی ودروله‌دوطن په‌هره‌خوا کښ‌ئی دترقی نیالگی‌وکرل استقلال‌ئی وگاته ای‌دنادرشاه دلاس پاللو پښتنو دهماغه‌معنوی‌پلار په‌څیرد قوی روح څېښتنان شی ! په اخرکی وایم را پېرزوشی استقلا له !

استقلال

ښاغلی میااورادالدین خان

د هرچا دپاره‌مرګ یو طبیعی امر دی حتی چه د ځنو خلقو په عقیده نباتات اوجمادات هم مرګ لری نو بنا پدی قانون‌عالم ، جاهل ،غنی ،فقیر ، ټول خلق دز وال اوفنا محکوم دی مګرهغه‌خلق‌چه په پراخه وچولی دو طن دحقونو دساتنی دپاره‌دحق اوحقیقت په‌نامه دملی سعادت اونیکمرغی په‌لار کښ دمرګ استقبال کو ی ؛ دهغو خلقو دژوندخخه‌چه‌هغوی دخپل وطن په‌مقابل کښ لا قید اوبی باك‌وی په‌سل درجې بهتردی بلکه دغه‌مرګ یو معنوی اوله افتخاره ډك حیات بلل کیږی .

همدا رنګه هغه کسان چه‌داسارت ، اوغلامی دقیودو په‌ماتولو،اوداجنبی‌تاثیراتو په‌لری کولو کښ‌له خپل‌سر او مال‌خخه‌تیریږی نودوی دوطن‌په‌ټولوفدائیانو او سربازانو لوړ حق لری او د وطن آزادی چه دقومی نیکمرغی اساس ګڼل کیږی‌ددوی دعزم اوهمت‌نتیجه بلل کیږی .

نودغه سر بازان په غرونو ، رغونو ، دښتو نو په لمنو کی‌نه‌دی ویده‌شوی‌بلکه ځمونږ په‌سترګو ،زړونو اوسینو کی ئې آرام ، او استراحت کړیدی -

دوی دخاورو . اوتیګولاندی‌نه‌دی‌اوده‌بلکه د پاك خدای درحمت ترسوری لاندی په‌لاهوتی مقام، او عالم علیون کی دخدای دانوارو مظهر دی .

ددغه ګران اوخوازه وطن سر بازان سره ددې چه دپر ته را تللو امید نلری ، اوله خپلو اولاد و خخه لری پراته دی‌مګر دخدای ، اوپیغمبر ، اوملت په نزد نهایت مقرب ، اولوی شان اوشرف لری .

ددوی دوینو په هرخا ځکی ، او داړ خ د خاورې په ذره ، ذره کی درجې او بر کتونه دی - همدوی دی چه دتوپونودغرهار، دماشیندارو، پمونو، توپکو دګو لیو په مقابل کی یه‌خورا عزم اومتانت ئې خپلې سینې ورته سپر کړیدی -

همدوی‌دی‌چه‌داستقلال اوآزادی‌عشق‌پدوی‌باعث شو چه‌دخپلو سرونو، مالونوخخه تیرشو همدوی دی‌چه دخپل ملت آزادی اواستقلال ئې په‌خپلووینو ګټلی دی -

ای دپښتنو زړورو زمریانو سربازانو آیاتاسی‌پوهیږی کوم‌وخت چه‌ددې‌خاورې دساتنې دپاره ددښمن له لاسه په‌خارو کی راولویدی ، اوپه‌خاورو، وینو کی راورغړیدی ستاسی دنیکوارواح ګانی ، اوډېرملایك په‌ډېر احترام ستاسی‌دخدمت دتقدیر دپاره ستاسی سرونوته‌حاضر ، اوهغه ستاسی‌په‌وینو ککړ وچولی یې ښکلول ، اودحوض کوثر خخه‌یې شراب‌طهور دخپلوزانو سره راوړی چه‌ستاسی په‌خولو او ستونو کی ئې در آچول اوویل‌یې دا خوازه شراب وسکی چه‌تنده موماته شی مونږهم چه په هر کال داستقلال‌جشن کوو، نو اول ستاسی دایثار، اوفدا کاری قدردانی کوو ، اووروسته بیاپه رنګ،رنګ ژ بوستاسی دقربانی اوسربازی- رمزونه داستقلال د شئوناتو دساتنی دپاره‌دملت‌هرفردته ورزده کوو ، اووایوچه خوشحاله‌دی وی ستاسی‌ارواحان، اومنوردی وی‌ستاسی‌قبرونه چه‌تاسی دخپل‌وطن داستقلال‌دپاره اودننی‌ورځی داستقلال دپاره موخپل ځانونه‌قربان کړیدی‌نوله‌دی سببه‌تر قیامته‌پوری‌موږ او دوطن ټول نژادستاسی دایثاراوفدا کاری-مرهون‌یو او کال‌په کال‌د استقلال‌بدغه‌مبارك‌موقع کی‌ستاسی اودقائد اعظم «اعلیحضرت نادرشاه» ارواحګانوته د عا کوو .

د خپلواکی اهمیت

د ښاغلی محمد رحیم خان « عصیمی »
د پښتو ټولنی د مفتش له قلم

دا هغه ورځ ده چه د پښتانه ملت خپل د پښتنو الی پلوشی . پر پښتونخوا خپری کړی دی او د خپلو اك خاوند شوی دی پښتانه په دی روځ کی وخپل فطری حق ته رسیدلی دی اوپه ژوندو اولسو کی ددنیا شمیر ل شوی دی په حقیقت کښ په دې ورځو پښتنو خپله مهمه وظیفه د اسلامیت پرځای کړې ده اوپه پښتنی همت سره وخپل مقصدته رسیدلی دی که څه هم فضلاؤ او د پښتو ادیبانو د خپلواکی په اهمیت کی دومره بیانونه کړی دی چه و ماته موقع نه دی پاته چه خپل مات قلم په دی موضوع کی وچلوم لا کن هغه زیاته مینه چه د خپلواکی سره ئی لرم ما مجبور کوی چه د خپلواکی ترعنوان لاندی څه ولیکم :-

ښکاره خبره ده چه د وطن خپلواکی تر کمی درجې پوری جاذبه اود انسان پر دماغ څومره اثر آچوی اوهر کله چه د خپلواکی زغ دانسان و غوږ وته ورسیږی لکه د بوسو او کهربا یو مقناطیسی اثر لری چه د سړی روح و ځان ته کشوی .

نیك مرغی ، ابدی ژوندون ، شرافت او بقائی او عموما ښه صفتونه اولوړی مرتبې د خپلواکی (استقلال) مرهون دی . انسان فطرتا خپلواك زیږیدلی او په سبب د لوړو احساساتو او خپلوحقوقو اوبالاخره د خپل ژوندانه په واسطه ښه ګټه اخستلی شی . د یو مملکت اساسی پر مخ تګ او دلوړ والی چینه خپلواکی او حریت دی .

گرده خواری ، لاس لاندیوالی ، مریی توب ، احتیاج او نور تکلیفونه د هغه ملت په برخه دی چه خپلواکی نه لری هر ملت چه ویښ اوزړه وروی نو تل به ئی پر هواد د خپلواکی بیرغ پورته وی اوهغه مملکت چه غواړی خپل ژوندون، شرف مړنتوب او خپل ملی حیثیت وساتی نو د خپلواکی په ساتنه به د زړه له کومې ځان قربان او خپلی وینی به توی کی ځکه چه خپلواکی د څښتن تعالی له لویو نعمتو څخه ده او هغه مملکتونه چه له دی بی بهانعمت څخه محروم دی او په مرګی توب سره ژوند تیروی ددې ساعت په ارمان دی ! دالوی نعمت د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید د زیار کښی اومړنتوب اود هغو زلمیانو چه په دې لار کښ ئی وینی توئی کړی او ځانونه ئی قربان کړی دی لوړه نتیجه او ثمره ده آه - زموږ خوږ استقلاله ! بی شکه ته د هر ملت د ترقی او پر مخ تګ پولوړ سبب اود اعتبار یو اصلی علت ئی چه بی تاهیچ ملت په دنیا کښ په شرافت سره ژوند اود زړه په مینی سره ترقی کولای نسی که دافغانستان دملت هر فرد ستاد ساتنی دپاره زر واره ځان او مال او خپل او لاد قربان کی خولاهم لږ دی .

ای ځموږ دخپلواکی شهیدانو اوپښتنو زمریانو ننروځ دپښتانه ټول اولس ستاسی په مړنتوب چه دجګړی په میدان کی موویني توئی کړی او ځانونه موقربان کړی سر لوړی او فخر کوی اوستاسی پر مبارکو زیارتونو د مبارکی ګلونه آچوی چه مبارك موسه دا با شرفه مرګ .

په یادی کښ دشهیدغازی (اعلیحضرت محمدنادرشاه) د استقلال ګټندوی پرپاك روح اودهغو زلمیانو چه خپلی وینی ئی د وطن داستقلال په ساتنه کی توئی کړی او ځانونه ئی قربان کړی دی دزړه د کومی څخه د تحیت درودونه اوسلامونه آستوم .

تل تر تله دوی زموږ ګران استقلال ژوندی دوی زموږ ګران ټولواك .

ع ج ، ا ، ا ■ ذیبان والاحضرت سردار غازی شاه محمودخان سپه‌سالار اووزیر حربیه

پخوانی نومَوړی

سپینه

ښاغلی عبدالحی خان «حبیبی»

سپینه یوه پښتنه شاعره ده ، چه دوزیر یار محمد خان الکوزی دحکومت په وخت دهرات په شاوخوا کښ اوسېدله داپښتنه دنور محمدخان الکوزی لوروه ، اوهغه وخت چه ایرانیانو په (۱۲۵۵ه) کال هرات کلابند کړ ، اودهرات پښتنو ددوی سره دمېړانی مقابله وکړه ، زموږ پښتنه شاعره ژوندی وه دهرات محاصره خویو کال اواته میاشتی اوږده شوه ، مگر پښتنو ځان تسلیم نکړ ، اوهرات یې نه پېر ېښو (۱) په دې جگړو او ملی مېړانو کښ دپښتنو سرداران شاه کامران سدوزی ، اووزیر یار محمدخان الکوزی و ، دوی دپښتنوالی ټینگار اوراسخ عزم په دې مقاومت کښ څرگند کړ.

زموږ پښته شاعره (سپینه) هم په دې ملی جگړو اود آزادی ساتنی په محارباتو کښ ژوندی وه اوډېر خوازه اشعار ئې په ملی لهجه دپښتنو دتوری اوننگیالی توب په ستاینه کښ ویلی دی ، چه دپښتنو ښځو حماسی افکار ښه ځنی څرگندېږی .

سپینه ددغی محاصرې اوجنگ په ټولو واقعاتو خبره ده ، او داښکارېږی ، چه دا اوخپلوان ددغی ننگی په لار کښ ولاړوه ، اوټوله وقائع ئې په ستر گو لیدلی دی .

که موږ تخمین اواټکل وکړو ، چه په دغه وخت کښ داپخه ښځه وه ځکه چه افکار او احساسات ئې هم پاخه دی نو به په دغه محاصره کښ ددې عمر له ۴۰ تر ۴۵ تخمین کړو اودتولد کال به ئې هم پسله (۱۲۰۰ه) وبولو .

دسپینی د اشعاروله مضامینو داهم را یستل کیږی چه ددې کورنۍ دوزیر یار محمدخان له کورنۍ سره خپلوی یانژدې تماس درلود ، ځکه چه دمحاصرې او جگړې ډېر خصوصی وقائع ئې راوړی اونظم کړی دی !

دپښتنې حماسیات :

زموږ ملی شاعری په خپله ملی ژبه موږ ته یوه مفصله قصه په څوسوه بیته کښ پرې یښې ده چه دهرات دمحاصرې منظوم تاریخ گانه شی ، په دې قصه کښ پښتنه شاعره ، دخپلوورونو مېړانی ستایی اوپه خوراساده اوسپېڅلو الفاظو ددې جگړې مختلف مناظر تصویر کوی ! دقصې په ابتداء کښ په یو څو بیته دکامران او وزیر یار محمدخان ستاینه وروسته بیانو په قصه شروع کوی .

دسپینی پښتنې شاعرې حماسی احساسات ډېر پیاوړی اوننگیالی دی په شعر او کلماتو کی تاثیر اواغېزه سته وینائې دحماست یوه ټوټه ده ، اودپښتنوالی اومېړانی نمایندگی کولای سی دسپینی پښتنې شاعرې نورڅه اشعار موږ ته ندی رارسېدلی ، فقط ددغی محاصرې منظوم تاریخ چه دمثنوی په ډول دی ، ځنی برخی زموږ څخه سته اوهغه هم بشپړی ندی ددې مثنوی په سر کښ پښتنه شاعره په حمد اونعت ابتدا کوی وروسته نودشاهزاده کامران اووزیر یار محمد خان ستاینه شروع کوی ددې له مضامینو داسی ښکاری چه سپینه یوه عالمه اوفاضله په تاریخ اودپښتنو په حال خبره ښځه ده که څه هم اشعار ئی ټوله تاریخی دی وقائع او حوادث بیانوی مگر دحماسته هم ډک دی ځکه چه دا اشعار خورا سلیس اوروان اوخوازه دی نوموږ لاندی ټوله هغه برخی چه لاس ته راغلی دی لیکوئی

تمته البیان سید جمال الدین .

پښتنه سپینه په‌خپله‌قصه داسی‌پیل کوی :

لمړی څښتن دټول عالم ستایمه
بیا محمد رسول اکرم ستایمه
درود پروادو اصحابانو دی وی
دپاك نبی پرښو یارانو دی وی
دی واستاځی د کو نینو بادار
په دوه جهانو دنبیانو سردار
د گنهگارو شفاعت کوینه
رحم پر خپل خسته امت کوینه
بیا منقبت د ابو بکر وایم
صدیق ئی‌نوم په‌صداقت ئی ستایم
دی لمړی یارو دخاوندد رسول
په‌لوی دربار په‌دوه‌جهانه مقبول
په‌یار غار دپاك نبی دی مشهور
توره تیاره ئی په انوارو ده‌پور
دوهم‌فاروق عمر وخدای‌ته‌نژدې
دعدالت ئی پر جهان نندارې
شو رودنیل ئی له پر ته کښته
مړه کافران دده له ډېر هیبته
د عدالت دره ئی هسی کاری
چه رپیدی به ځنی زړه دمزری
دریم عثمان ذی النورین و نمر
هم وجامع دپاك قرآن دا کبر
حلم و حیا کښ و بادار دامت
این عفان موشو سردار دامت
څلورم یارو شیردخدای وکرار
علی حیدرو تل په لاس ذوالفقار
د خیبر ورئی‌دذوالفقارته‌و مات
په‌بریښ دتوری‌ئې‌تل‌ورك ظلمات
بیانو کومه په خوښی‌په عزت
دپاك‌نبی د اصحابانو صفت
چه‌دوی‌وه ستوری‌پر اسمان‌ځلیده
تل‌وه خوشحاله‌پاك‌رسول‌ئی لیده
دخدای رحمت‌دی وی پر دوی ترابد
خالق دی عفو کی په روی ، ځموږ بد

دپاچا اوزیر په‌ستاینه کښ

اوس‌نوشروع کړم دپاچا په‌صفت
ځموږشاهزاده دی‌ننگیالی‌په‌غیرت
دی دی ډیوه دسدو زو د تبر
په ځرښو کی نن دی لکه لمر
داحمدشاه غازی‌پښتون له کوره
نن‌دی کامران‌شهزاده کښلې‌توره
غلیم له‌ده نه پر حذر دی جانه
دده له توری نه ابتر دی جانه
په ننگیالیو توریالی شهزاده
په غیرتمنو بریالی شهزاده
ددرانوناموس په‌ده دی خوندی
د پښتنو متی په‌ده‌دی قوی
په‌درانه‌سیوری‌ئې‌هرات‌شو آرام
له دښمنانو ئی وکښو انتقام
دی په رشتیانعم الخلف د محمود
خالق‌دې کاندی‌په‌دارینو مسعود
دپښتو پر ننگه کلك دی ولاړ
ټول غلیمان دده له توری لتاړ
بل‌ئی‌وزیر یارمحمد خان توریالی
په‌سپین‌میدان ځنی رپیږی‌زمری
دی په‌تدبیر آصف‌نظام دهرات
ښه‌ئی سنبال کړ انتظام د هرات
دی ننگیالی دالکو د تبر
دغنی‌خان‌دستر گو توردزړه سر
دسپینه توره ئی له تیکی بد ر
دشهزاده دی مړ نی بر ادر
پښتون‌پرده‌راټول‌دجنگ‌پرمیدان
سټ ئی په‌توره کړ غلیم‌دښمنان
خالقه دا دپښتو توریالی
وی دهرات‌پرسیمه تل‌دی‌ژوندی
څوچه شینکی آسمان‌ولاړ پرمځکه
څوچه‌سپوږمی‌اونمرخاته‌لوېده که
د پښتنو سردی‌په دوی وی بلند
هم‌په‌غیرت‌وټول‌جهان ته‌ځرگند

وروسته‌تر مدح د کامران شاهزاده
واوره چه کاندم د جنگوښه قصه
له « سپینی » خواری څخه به‌نه‌وی آثار
دا به‌وی خاوری پاتی شی به یاد گار

په‌هرات او قندهار کښ د سدوزو پاچهی

راسه چه تاته حکایت کومه
د سدوزو د سلطنت کومه
پخوا تر دې وه‌د هرات بادشاهان
د سدوزو و ذوالفقار زمان خان
دوی سرداران د پښتنو د هرات
غلیم یې تل له‌تېرې توری وو مات
د پښتنو توری به تل ځلېدې
د دښمن ستر گې له‌بر ېښناوې ړندې
دوی وه مېړونه پښتانه تور یالی
پر ننگه ټینگ وه دوطن ننگیالی
په‌جنگ کی هر یو لکه‌غټ شین مزری
د سدوزو وهر یو ځلمی بر یالی
چه به ئې توره له نیامه وکښه
غڅ او کینه بې له ایامه وکښه
د هرات خوا وه دغلیمه خالی
دلته خپره وه‌هوسائی خو شحالی
ټول پښتانه په اتفاق وه ولاړ
کار د دښمن د دوی له‌لاسه‌و یجاړ
چه به‌پښتون ځلمی په‌خوب کی دښمن
ولیدله وېری به‌ئی رېږ د په بدن

متأسفانه تر دې وروسته اشعار له دغی قصې څخه زموږ لاس ته‌نه راغله ،له دغو څخه‌هم ویونکی زموږ د پښتنې افکار اودطبع‌روانی اونورعلمی اوتاریخی معلومات، پرتله کولای سی .

دغه بیتونه هم له‌دغی قصې څخه لاس ته راغلی دی چه‌د محاصرې دیوه‌جنگ حال ښئی :

غلیم په‌ښهر بیا هجوم راوړی
مخ تې ولاړ دی یار محمد پیاوړی
زموږ پښتانه لکه زمری جنگېږی
ولی : دوینو پر حصار بهېږی
هرات په‌وینو د پښتون شو گلرنگ
پښتون زخمی دی دغلیم په خدنگ
یار محمد وایی پښتنو ځماز مرو
ټوله‌راووزی وسله دارله کو رو
پر غلیم وکړی یو هجوم گړندې
هرات له‌لاسه‌په‌ژوندون مه‌باسی
داخو ځموږ کوردی ځموږ وطن دینه
دا ځموږ ټاټوبی ځموږ مامن دینه
کفن په غاړه دا وطن و ساتی
ځموږ د پلرو ښکلی مدفن وساتی
دلته پراته‌دی ننگیالی نیکه گان
دلته بهېږی وینی تل د افغان
هرات ځموږ دی ځموږ کوردینه
ځموږ نغری دی ځموږ گور دینه
دښمن راغلی تر دېواله د کور
ولاړ سی دادی د پښتون لوی پېغور
کامران نارې کړې چه‌پښتونه قامه
توره را باسه مره پر ننگه نامه
مه‌بایله ځان اوسه ولاړ پر حصار
د پښتانه پر ننگه ځان کړه ایثار
بو یه‌غیرت چه‌مو ناموس خوندی سی
نوم د پښتون نوم د اولس خوندی سی
ځملو چه‌وراوېدې نارې غلبلې
له یار محمده او کامرانه دلی
له کلا وواته زمر یانو په څېر
پر د ښمنانو ئې جوړ کړ لټپېر
سرونې غوڅ کړه‌د دښمن په توره
. . . . . .
دښمن سومات راغی دوران د کامران
دیار محمد د بری ستوری ځلان

شعر او شاعری

ښاغلی محمد اعظم خان «ایازی»

دشعر په تعریف کښې دا کثرو قدما و رائی مختلفی دی ، ځنی فقط موزون کلام ته شعر وائی ، ځنی تخیل او محاکات دشعر بنیاد ګڼړی ، او ځنی دتاثر ماده د شعر دپاره ضروری ګڼړی ، اوس باید دا معلومه سی چه دشعر حقیقی لوازمات څه شی دی ؛

ددنیا دهری ژبی ادبی وېښې پردو وشیانو باندی سوی دی ، نثر اونظم ، که موږ دشعر اطلاق یوازی پرموزون کلام باندی وکو ، نو په نظم اونثر کښې به هیڅ فرق را نه سی ، ولی چه ډیرو مضنفینو په نثر کښې دموزونیت خیال کړی دی ، او دموزون عبارت په لیکلو کښې ئې کوښښ کړی دی ، نو که نظم فقط داشعارو یوه موزونه مجموعه وی ، نو نظم هیڅ ضرورت ئې نه ستة ، لیکن داسی نه ده په ژبه کښې د نظم ډیر ضرورت دی ، ولی چه نظم دانسان پرزړه باندی ډیر اثر کوی ، هغه وقت اغیزه ناك اوطبیعت خوښوونکی وی ، چه دتاثر ماده په کښې وی ، که دتاثر جذبه په کښې نه وی هغه ته شعر نه ویل کیږی ، بلکه یو موزون کلام ورته ویل کیږی ؛

اوس باید دا معلومه سی ، چه په شعر کښې په څه ډول دتاثر ماده اوجذبه پیدا کیدلای سی ، داخبره دشاعر په طبیعت او فطرت سره اړه لری ، شعر په حقیقت کښې دجذباتو یوه مرقعه ده ، چه داورېدونکو زړونه او توجه وخیل ځان ته را کشوی ، لکه چه یو مصور دخپل تصویر دښایست دپاره هرډول ذرایع اختیاروی او د هغه دښایست دپاره کوښښونه کوی ، او خپل ټول کمالات په دی کار کښې خرڅوی ، دغه رنګه شاعر هم کوښښ کوی چه خپل شعر دموزون الفاظو اومحاوراتو په واسطه ښایسته ، مزین او متاثر وګرزوی ، اوترڅو چه ممکنه وی ، د دې خبری کوښښ کوی چه په هغه کښې هیڅ اوم والی نه وی ، شاعر دخپل شعر دښکاره کولو دپاره کوښښ کوی ، چه دیوالوی قوت څخه کار واخلی ، و دې قوت ته دتخیل قوت وائی ، چه قدرت وهر چاته په یو ماند ازه سره ورکړی دی ، لیکن دلته داخیال پیدا کیږی ، هر کله چه په هر انسان کښې دتخیل قوت سته ، نو د هر سړی په کلام کښې هغه ښه والی ولی نه پیدا کیږی ، ددې اسانه ځواب دادی ، چه ځنی خلق دخپل دتخیل قوت څخه پوره کارنه اخلی ، بلکه دنورو خلقو نقل کوی ، اخر نتیجه ئې داسی سی چه دده دتخیل قوت کمروزه او بالکل بیکاره سی ، تخیل یو داسی قوت دی ، چه دشاعر عزت او افتخار زیاتوی ، او په شعر کښې ئې دتاثر اوجذبې قوت پیدا کوی ، هر کله چه یو شاعر غواړی چه دفطرت یوه منظره ښکاره کی نودده په زړه کښې فوراً دهغی منظری تصویر نقش سی ، لیکن دهغی دظاهر ولو دپاره مناسب الفاظ اومحاورات پیدا کوی اوغواړی چه په خپل بیان کښې یو مخصوص کیف پیدا کی ، نو په دی وقت کښې و ده ته د تخیل ضرورت پیښیږی ، او دتخیل په ذریعه خپل مطلب حاصلوی ، دمحاکات دپاره هم دتخیل ضرورت وی ، ولی چه بیله تخیل په کلام کښې لطف اوښایست پیدا کیدلای نه سی اونه د خلقو توجه و خپله خواته را کشولای سی بلکه داسی اشعار دشاعر نوم هم بد ناموی ، اوخلق د وقت په نظر ورته نه ګوری ، اوس ثابته سوه چه د شعر دپاره تأثر اوتخیل ډیر ضروری دی !

ار سطو وائی چه په انسان کښې دنقالی او محاکات ماده فطرتاً پرته ده ، په حیواناتو کښې دا ماده یابالکل نه سته او که وی هم ډیر لږوی ، مثلاً طوطی فقط د آواز نقل اخستلای سی او دحرکاتو اوسکناتو نقل اخستلای نه سی بزودحرکاتو اوسکناتو نقل اخستلای سی لیکن داواز نقل اخستلای نه سی ، لیکن انسان دهر شی نقل اخستلای سی اودا دانسان په فطرت کښې پرته ده چه دی دمحاکاتو یو خاص خوند

اولطف حاصلوی، مثلاً که دیو بدشکل ځانور تصویر هو به هو و کښوول سی ، نو هر سړی دهغه دلیدو څخه یو لطف اخلی که څه هم دهغه ځانور دلیدو څخه دانسان طبیعت خرابیږی، د دې څخه دا ثابتیږی چه دیوه شی محاکات پخپله یو خوند اولطف لری ، نو هر کله چه شعر هم یو ډول نقالی او مصوری ده نو خواه مخواه دهغه د او ریدو څخه پر طبیعت باندی یو اثر لویږی ، بل سبب ئې دا دی چه موسیقی اوسرود باالطبع موثر شیان دی ، او په شعر کښ دموسیقی جزو شامل دی، نوله دی وجه نه شعر هم موثر وی.

ارسطو څه اسباب چه دشعر دماثریدو په تعلق بیان کړی دی ، صحیح اوضروری دی لیکن تردی زیات نوری خبری هم سته ، چه دهغه په واسطه شعر متاثر کیږی ،

دسحار دباد چلیدل ، دګلانو غوړیدل ، د بلبلانو چوغیدل څه اثر چه زموږ پر زړه باندی کوی ، ظاهر دی، حاجت و دلیل ته نه لری ، که شاعر ددې منظرو کیفیت دشعر په ډول بیان کی نو دانسان پر زړه باندی ضروریو خاص ډول اثر کوی ، او جذبات او حسیات ئې په ښور را ولی ددی ټولو بیاناتو څخه دا نتیجه را وزی چه د شعر دپاره تر ټولو ضروری اولمړی رکن اثر دی او بیا تخیل ، محاکات اوموزونیت دشعر معمولی عنصر دی هر کله چه داټولی خبری په شعر کښ پیداسی ، نو هغه خود به خود زړونه وخپلی خواته را کشوی، اوخلق دهغه څخه خونداخلی اوپه ادبیاتو کښ ځای نیسی، که کوم شعر ددی ښیګنو څخه خالی و، نو هغه هیڅکله زړونه وخپل ځان ته نه سی را کشوی ، اونه هغه په ادبیاتو کښ شاملیدلای سی دشاعری څخه اصلی مقصد دادی چه جذبات په ښورر اولی اوبیده قوتونه ویښ کی، لیکن دامطالب هغه وقت پوره کیږی چه شعر ددې پورتو خصوصیاتو څخه ډک وی ، که په شعر کښ دا خصوصیات نه وی نو شاعر هیڅکله په خپل مطلب کښ کامیابیدلای نه سی ؛ اونه موږ وهغه شعر ته شعر ویلای سو بلکه فقط یو موزون کلام ورته ویلای سو .

دیغمان بیکتوت دمنظرو څخه

تاریخی برخه

شفاهی ادبیات

ښاغلی احمد علی خان « کهزاد »

څه شی چه په بشری ځانګوکښ دارین تکم له نورو ځنی په ښکاره بیلوی هغه‌ددوی هغه منظومی او سرودونه دی چه له ډیری پخوا زمانی یی‌لری اود شفاهی ادبیاتو دوره یی بولی ـ دا ادبیات زمونږ د معلوماتو منبع او د دوی د افتخاراتو سرچشمه ګڼل کیږی .

د شفاهی ادبیاتو د دوری پوهیدنه که د نورو دپاره لږ څه ګرانه وی زمونږ پښتنو دپاره څه ګرانوالی او اشکال نلری ځکه چه په پښتو کښ دغه دوره شته او ویلی شو چه ددې ژبی دشفاهی ادبیاتو دوره ډیره اوږده ده .

هر کله چه پښتو د باختری اریائی‌ژبو یوه‌خانګه ده نوڅه موده د شفاهی ادبیاتو دوره سرودونو تیره کړه او وروسته ترهغه د مهاجرتونو په سبب او ددې لامله چه اریائی ښاخونه یوله بله لری شوه او لهجو هم یوله‌بله توپیر اوتفاوت پیدا کړ پښتو هم د عربی رسم الخط د انتشار تروخته پوری د شفاهی ادبیاتو دوره رسولی ده شفاهی او تحریری ادبیات په اصل اوحقیقی مفهوم کښ څه فرق‌نلری . په خوله او ژبه باندی زمزمه کول‌یوطبعی شی دی چه‌د انسان له خلقت سره سم پیدا شوی دی او تحریر په هررسم‌الخط اوعلا موچه وی دبشریت‌دتکامل د مرحلونمونه ده چه هرقوم اوهرملت نظرخپل جغرافیایی موقعیت اوتاریخی کوایفوته له د غومراحلوځنی‌یوه مرحله په‌معین وخت او معینه دوره کښ پیدا کړی ده .

شفاهی ادبیات دژبی زمزمه اود زړه قوت دی چه ژبی تهراغلی او ژبه په ژبه تکرارشوی ترخوچه د غوږوله لاری حافظوته رسیدلی اوپه زړو باندی‌یی‌تاثیر کړی دی ددې راز ادبیاتو ځای‌همیشه حافظه، ژبه ، غوږ اوزړه‌دی چه په همد غوځایو کښ‌پیدا شوی او په همدغوځایو کښ یی نشوونما موندلی‌اوحفاظت یی شوی دی ـ شفاهی ادبیات نسبت تحریری ادبیاتوته زیات طبیعی وی .

څنګه چه مونږ بی‌تکلفه خبری اتری کووهمدغه شان ددې دوری‌سرودونه او منظومی‌هم بی تکلفه اوساده دی چه څه پیرایه نلری ـ څه شی‌چه ستر ګی‌یی وینی اوزړه‌یی احساس کوی هغه له ژبی را ووزی ـ هر کله چه صحبت او ګړېدل‌د انسان طبیعی کاردی نو بایدچه‌دد نیاهرقام شفاهی ادبیات ولری اودا حتمی ده چه د رسم الخطله پیدا کیدوڅنی مخکښ او وروسته په هرقام کښ شفاهی ادبیات و اوشته مګرعمو مایی له ابتدائی مراحلو تجاوز نه‌دی کړی او که تجاوز یی هم کړی وی حفاظت‌یی‌نه دی شوی اوپه نتیجه کښ‌یی‌هیڅ اثر نه‌دی پاتی شوی‌نو ویلی شوچه شفاهی ادبیات دار ینوله اختصاصاتو ځنی ګڼل کیږی او که ښه ځیرشو نودباختری‌ارینو مختصه ممیزه‌ده.

دارینو شفاهی ادبیات ښا یسته ډیره موده خوله په خوله‌له یوی سینی بلی‌ته را نقل شوی دی او هر کله چه‌دا رین له‌پخوانیو کور نیوڅنی دمعنوی میراث انتقال

زیات اهمیت درلود نودهری کورنی مشر اوپلار به سعیه کوله‌چه‌خپل کهول ته‌دغه معنوی پنگه ورکاندی او د ایو پوره عامل‌وچه دتحریر تروخته پو ری یی منظو می او سرودونه‌قرنونه‌قرنونه‌وساتل‌اومحوه کیدوته یی‌پری نپودل که‌خه‌هم لحینی‌ډیر پخوانی سرودونه‌له لاسه‌وتلی‌دی‌چه دهغو په‌شا وخوا کښ به مفصل بحث وکړو .

دارین شفاهی ادبیات چه وروسته دتحریر په قید کښ راغلی او مونږته را رسیدلی دی (ویدی سرودونه) بلل کیږی او په خلورو کتابونو ویشل شوی دی چه هر یویی بیل او گوښی نوم لری لکه : « ریك وید » « یجوروید » « عتروید » « سام وید » چه دوید کلمه په تولو کښ مکرره شوی .

« وید » یوه ډیره مهمه کلمه ده. چه دویدی مدنیت او ژبی د لمړی مدفق« ما کس مولر » په عقیده دا لمړی کلمه ده چه له اریائی ژبی را وتلی ده او د (ودا) یا (وید) اصلی معنی پوهه او د انائی‌ده لحکه چه د و یدله فعله چه د پوهیدل او دانستن په معنی ده جوړه شوی او اصطلاحاورلحنی‌په‌مذهبی‌پوهه یا مقدسه پوهه‌تعبیر کولی شو لحکه چه ویدی سرودونه په اصل کښ مذهبی تخیلات دی چه دالفاظو‌په قالبونو کښ‌اچول‌شوی‌اواهنگ داره موزونو مراد فوالفا ظوته دشعرجامه اغوستل شویده .

داریائی ادبیاتو دوره یاسرود اوسرود گوئی څنگه شروع شوی ده اوعلت‌یی‌څه‌شی‌و ؟ ایامحض شوق اوادب او شعرو یلودا مجموعه میدان‌ته راوړی ده او که کوم اساسی‌علت موجودو ؟ پدی کښ‌هیڅ شك‌نشته چه دامجموعه محض‌د کوم شاعر دعشقی احساساتو په‌اثر کښ یادخالص ادبی‌احتیاجاتو په‌واسطه‌مینځ‌ته نه‌ده راغلی بلکه‌په‌هغه قرار چه له تر جمی څرگند یږی «وید» مذهبی‌پوهه ده او « ریگ وید » دستایش سرودته ویل کیږی - و یدی سرودونه په‌حقیقت کښ‌داریائی تکم دزړه دنیاز زمزمه او دقلبی ستاینی غگ دی‌چه حساس‌اودقیق‌شاعر د خپل خیال په‌لطافت‌اود کلماتو په وزن او آهنگ بل رنگ ورکړی نوویلی‌شوچه دویدی‌سرودونواساس‌مذهبی تخلیات اوستاینی دی - اوددې لامله چه دار یائی‌مذهب مفکوری دطبیعی عنا صرو اوبدیعی مظاهرو په‌ستاینه‌بناو نو طبعاً ددوی په‌ادبیاتو کښ‌دعناصرو اوطبیعی‌بنایست‌اوښکلیتوب توصیف لیدل کیږی .

سړی چه‌د ملتو دادبیاتو تاریخ ته‌مراجعت وکړی‌دا څرگند یږی‌چه‌دا رباب‌النوعووجوداودطبیعی قواوجسمو جوړ ولو په ادبیاتو کښ‌نظم وی‌او که نثر فوق‌العاده رول لوبولی دی‌او کومه تابلو به‌چه شاعر ترسیمو له هغه به‌ئی ډیره رنگینه ، مرموزه اوقشنگه جوړوله . دشاعر ژوندون دعشق له شور او دزړه له سوز سره اغزل شویدی ، نو هر کله چه‌شاعروغواړی چه دغه شوراوسوز په خیالی عالم کښ‌رسم کړی نوهرڅو مره طبیعی عناصر اودطبیعت دښکلیتوب‌مظاهر ، قشنگ نومونه او لطیف او مخصوص وضعیتو نه‌چه دده په او ها مو کښ وی هما غومره به‌دده کلام‌چه‌په حقیقت کښ‌دده‌دروح‌تر اش‌شوی هیکل دی قشنگ وزیبا ، جذاب اوگیرنده‌او کامل وی او په‌اوریدونکو به ډیر ښه تاثیر کوی .

لکه چه دیونا نیانو دمهمی ترقی علت چه‌په صنا ئع ظریفه وکښ یی‌درلود لکه‌هیکل تراشی، ادبیات : نظم او نثر ، خطا به اوبیان - مو سیقی ، معماری ، حجا ری او نور . . . هم دارباب النوعواو دهغوی د پخوانیو قصو وجو د و.

(نوربیا)

گړه کول

ادبی انتقاد

ښاغلی قیام الدین خان « خادم »

په لاندې کرښو کښې غواړو چه دیو خوتکو او جملو تصحیح و کړو . هیله کیږی چه دپښتو د ادب پلټو نکی به ئی په پوره دلچسپئی مطالعه کاندی . تردې وروسته به یر له پسې دغسی مضامین لیکل کیږی .

(۱): « لاندینی اود باندینی » دوې کلمې دی چه د « لاندی اودباندی » څخه جوړی شوی دی - په لا ندی اودباندی کښې نن ورځ دپښتو ټول ادیبان (ی) لیکی ؛ اوهیڅوك پکښې اختلاف نه لری . نوهر کله چه په اصل کلمه کښې (ی) شته ، نو په دغه صفتی کلمو کښې چه د دغه د و و اصلو څخه جوړی شوی دی ؛ هم (ی) شته دی . نو بیا هیڅ لاره نشته چه « لاندینی » یا « د باندینی » بی له (ی) څخه « لاندنی » یا « دباندنی » ولیکل شی . نو په هر ځای کښې چه دا کلمه بی (ی) لیکلی شوې وی ؛ باید اصلاح کړی شی !

(۲) : په پښتو کښې دمتعدی ماضی گا نو غو ندی داضافت (د) هم عامل دی .

په ډېرو اسماؤ کښې داعمل په ډېرو ډولو څرگندیږی؛ چه یود دغو څخه دادی چه په هغه مونث اسم چه (ه) لری داخل شی (ه) یی په (ی) بدلوی . لکه (رحیمه) . وگوری دماضی عمل مثلا رحیمی اوبه وڅښلی . ر حیمی هند وانه وخوړه . رحیمی کالی واغو ستل . دال هم دغسی کار کوی ؛ لکه : درحیمی ورور راغی . د رحیمی کور په کابل کښې دی . درحیمی قلم څه شو ؟ -

داقا عده هیڅ استثنا نه لری . نوهر څو ك چه « دبرطانیه مملکت » ؛ « دترکیه وزیر » . « دروسیه بحری قوه » یاددې رقمه نور څه لیکی ؛ باید پس له دی ملتفت او سی ؛ او که چیرې بیاهم دا سی شیان و لیدی شی سهودی وبللی شی !

(۳) « احمدغواړی چه خپل مناسبات دمحمود سره دوا م ور کړی ! » داجمله عیناد پارسی ترجمه ده .

په پښتو کښې داعبارت داسې ادا کیږی : « ا حمد خپل مناسبات دمحموده سره ساتل غواړی » یا « احمد غواړی چه خپل مناسبات دمحمود سره وساتی » - ځکه چه دوام ور کول محاوره په پښتو کښې نشته . خاصه دپارسی محاوره ده .

(٤) : « پردغه ډول ئی تو له دجلا ل اباد علا قه دنا رنجا نو څخه ډ که کړه » داجمله باید داسی اداشی:

« په دغه ډول یی دجلال اباد تو له علاقه دنار نجا نو څخه ډ که کړه » ځکه چه « تو له » لفظ د « علاقه » صفت دی . باید موصوف ته نزدی وی ؛ او په مینځ کښې یی حائل نه وی !

ع ، ج زلمی والاحضرت سردار محمدنعیم خان دمعارف وزیر
اودصدارت عظمی معاون

دپښتو په شاوخوا کښ

دپښتو حروف

ښاغلی «جرار»

نن چه د خلکو په احساساتو کښ د اناسته ده چه هرومرو به ځان دخپلی مورنۍ ژبی په لیك او لوست کښ ممتاز کوی او هرچا دزړه له کومی په دغه مقصد پسی څپلۍ په پښو کړی دی نو زه هم د ژبی د خدمت په‌نامه د خپلی ملی ژبی په نسبت خپل ناڅېز معلومات ښاغلو لوستونکوته وړاندې کوم . ما د کابل د مجلې په(۱۲۵) گڼه کښ د پښتو د ځینو ضمائرو په خواو شا کښ څه لیکلی‌وو چه د هغو زدکړه د پښتو په محاوره کښ ډېره مرسته کوی اوس بیا په خپل نوبت په هماغه ډول په لنډ صورت څونور قواعد لیکم گمان کوم چه بې‌فائدې به‌نه‌وی .

۱ ـ : ځینی خلك چه د پښتو د تورو اصلی مخرجونه نه‌پېژنی‌نو هغوته د تلفظ په‌وخت کی خورامشکلات پېښېږی نوزه دځینوتورو اصلی مخرجونه په لنډ ډول لیکم البته هرڅوك به ئی د عمل په وخت کښ په تاثیروپوهېږی :

(ټ)

که څوك غواړی چه دا توری په خپل مخرج کښ صحیح ادا کړی نوداسې دې وکړی چه د ژبی دڅو کې لاندینۍ برخه دې د پاسنیو غاښونو له آخرۍ برخې څخه لگه ور وړاندی کلکه اړم کی نوهر کله چه ژبه خوشی کوی نو ژبه‌دې په‌شدت خوشی کی اوپه عین زمان کې‌دی په فارسی (ت) تلفظ وکړی په دغه صورت کې پخپله (ټ) ادا کېږی .

(ډ)

داتوری په ادا کې له (ټ) څخه هېڅ توپیر نه‌لری مگرداده چه ژبه خوشی کوی نوتلفظ دی په فارسی (د) وکړی هماغه شان (ډ) ادا کېږی .

(ړ)

د (ړ) توری د تلفظ په وخت کی بیدود لمړ نیو دوه مادوپه څېرادا کېږی مگر په دی صورت کی به په (ر) تلفظ کوی چه طبعا (ړ) ادا کېږی . هر کله چه په تلفظ کې دادرې توری تریوې اندازې مشکلات لری وویل‌شوه اوس به‌له بلې لارې څه‌و وایو :

په پښتو کښ دا لاندینی (۹) توری نشته ع ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ف . ق ، ذ ، ث ، نو که په‌پښتو کی کومه کلمه استعمال شوه چه دا توری پکښ وو هغه به عربی کلمه وی : مثلا صابون ، ضمیر طیاره ، ظلم ، فقیر ، قلم ، ز کوت ، ، ثواب اونور .

په پښتو ص په (س) ض په (ز) ط په (ت) ظ په (ز) ف په (پ) ق په (ك) ذ په (ز) ث په (س) بدلوی .

په پښتو کښ د تانیث علامې :

۱ : ـ (ه) لکه اسپه پښه

۲ : ـ (ا) » ژړا ، خڼدا

۳ : ـ (ن) » پړستن ، څرمن

٤ : ـ (و) » پښتو ، پشو

٥ : ـ (ۍ) ډوډۍ ، غړۍ

مؤنث : ـ مؤنث په دوه ډوله دی حقیقی اوغیر حقیقی حقیقی مؤنث هغه دی چه په مقابل کې له‌خپل جنس مذکر و لری لکه اسپه ، خره ، ښځه غیر حقیقی هغه دی چه په مقابل کی‌ئی مذکر نه‌وی لکه شپه ورځ ، پښه ، او نور .

پخوانی دودونه

دری خوندی او یو ورور

د کوچنیانو دپاره :

دښاغلی عبدالهادی خان «خوږمن» ترجمه

یووخت په پخوا زمانو کښې درې خوندې وې، چه دوې ئې ډیری لټی او بیکاره وې او دریمه ئې خوراښه کاریگر نجلی وه .

دوی یوورور درلود په نامه د (بدپخو کاس) دې بدپخو کاس یوه ورځ وځان ته یوتور او یوه بېړی جوړه کړه نو هر روځ به ویوه لوی ډنډ (جهیل) ته تی او هوری به ئی کبان نیول .

دې زحمت کښې خور به چه ډوډی پخه کړه نو به وهغه ډنډ ته ولاړه او دهغه پرغاړه به کښېنستله نو به ئې ناری کړه !! «بدپخو کاسه ! آ بدپخو کاسه !» بېړی دی وغاړی ته را ووهه چه زه بو پوخ کـ در کم نو ته به یو اوم ماهی را کې ! »

په دغه شان بدپخو کاس ورځی تېرولې او دې خور به ئې ډوډی وروړه یوه ورځ چه بیا دانجلی ورغله او ورناري یی کړه، هلته په ډنډ کی د دغه لوی ډند کوډ گره بډی لمبیده نو هغې چه د اوارو ېده بله ورځ ئی پخپله ورناری کړه ! « بدپخو کاسه ! بېړی د غاړی ته را ووهه چه زه یو پوخ ماهی در کم ! » هر کله چه بدپخو کاس دانارهوارو ېده هغه وپوهیده چه دائې دخور اوازنه دی نو ئې ورزغ کړه ! « زما دخور او ازنری دی ستا اواز خوپنډدی ، نو زه هم نه درځم . »

بډی چه د اوارو ېده وپښ ته ولاړه او ورته وې ویل چه ژبه ئې ور نری کی ، هغه هم ژبه ورنری کړه ، نو دابله ورځ راغله وبدپخو کاسه ئی ورناری کړه هغه هم وغولیده نو ورغی ، دې ناڅاپه وربانـدی غوته کړه او تر غرو او تر رودو ئی پوری ایستی .

• په دغه مازدیگر چه د بدپخو کاس هغه ښه خور راغله او هر څه ناري چه ئې ووهلې هیڅ ځواب ئې وانه رویدی دورور بېړی تشه توره ولاړه ده، دې غوښته چه وخپلی خوندوته د بدمرغی خبر وروړی چه ورور ئې ډوب شوی دې چه نابېره یو نری اواز د بېړی څخه راوخوت ! « مادروباسه او په اوبو کی می واچوه، نو زه به درته ووایم چه په ورور دی څه شوی دی . »

دې نجلی چه شاوخوا وکتل هیڅوك ئې ونه لیدل ، په پای کی ئې د بېړی په منځ کی یو ماهی ولیدی چه په تور کی بند پاته دی او سره ښوری ، نو ئې را وایست او په اوبو کی ئې وا چاوه . دا کـب چه او بوته ولاړ بیرته د او بو پر سر را وخوت او ویی ویل « ! خیر یوسی ؛ خدای دې ښاده که ! نو اوس به زه هم ستادور ورځای دروښیم لمړی ، دغه لولار درواخله ، ویوه زنگله ته به ورسېږې چه د زنگله څخه تېره سوې ، نو به یوه دمڼې و نه ووینې چه ترشایی یوغردی . . . دغره پرسر یوه ژړه غواڅړ کوی ددې غوا څخه هم تېره سه ، نو به ویوې شېلې ته ورسېږې ، په شېلو کی یو دوړو کا شین پروت دی او پس له هغه یوه واله ده پردې ولې یو دتختو پول پروت دی پردې پله دولی څخه پورې وزه ، بیا به نو جگی ونی ووینې د دغوونو په منځ کی یوه کوډله ده ، په دغه کوډله کی به خپل خوار ورور ومومې . »

دانجلی کورته ولاړه او داټول نکل (نقل) ئې وخپلو دوو خوندوته وکی ، هغه لوخوریې راولاړه سوه او وخپلی منځوی خورته ئې وویل . « که څه هم دانکل خو څوك نسوای منلای چه رشتیادی که درواغ بیا به هم زه ولاړه سم او وبه گورم چه څه خبره ده . »

دالټه او بیکاره نجلی را وو تله او هغه لو لار یې را واخیستله ، هر کله چه د زنگله څخه تېره شوه ، دمڼې ونه ئې دسړك پرغاړه ولیده . دمڼې ونه پر یوه خوا کږه شوه او

پوښتنه ئې وکړه! « اې نجلکی ! دخیره چیری ځې؟ »
دې لټی خور وویل : « ځم چه خپل ورور پیدا کم »
ونی وویل : « مابه یووارټکوهې چه بارمی دروند دی . »
نجلی وویل : « زه خودونه وخت نه لرم ، شپون که راغی
هغه به دی وښوروی . » دا ئې وویل او په تر یو تندی پر خپله
تړه رهی سوه . پس له هغه دغره وسرته ورسېده ، هلته ئې
هغه ژړه غواولیده ، هغې وویل ! « دخیره چیری ځی
نجلکی ؟ » دې وویل ! « خپل ورور پیدا کوم . »

غواوویل : « لمړی ماؤ لوشه ته گوره چه شیدې بیخی
راڅخه څڅیږی اودرنې دی . . . . »

- « زه خودونه وخت نه لرم چه اوس په تاسر وگرزوم
نودغسی ئې پر خپله لارالا کړه پس له هغه وشېلوته راورسېده
دلته ئې داوړو کاشین ولیدی ، ددې کاشینه څخه یوه ناره
را ووته : « دخیره چیری داسی په تلوار ځې ؟ »
دې ژر ځواب ورکی : « په خپل ور ورپسی . »

- « که پرمارحم وکې اوما پاخه کې خو ډېر به ښه وی
ځکه چه موږ بیخی تروه سوی یو . » دې لټی نجلی په تر یو
تندی ځواب ورکی : « ته نه وینې ، چه زما پخپله کار دی
زه دونه وخت نلرم . » نو نجلی ددې ځایه څخه هم تېره
سوه څوچه دتختو وپله ته ورورسېده ، پر پله ئې لا پښه نه وه
ایښې چه دتختو چیخکی راووتی اووې ویل : « اې ښکلی
نجلکی ! که ماپرې منځی اوپاک می کې څنگه به ښه وی
ته گوره چه زه څنگه زوړ سوی یم ، نوزه به دهم بیا په ښه
درسم . » منگر دې نجلی هیڅ سر په ونه گرزاوه اودغسی پر
خپله لار رهی شوه . ډېره لارې نه وه وهلې چه ویوې کچنی کوډلی
ته را ورسېده ، داهم په زړه ورتیا سره په دې کوډله ننوته ، که
گوری چه هغه زړه کوډگره بډی ومېز ته ناسته ده ، یوه اوږه ئې
ویوه دیوال او بله اوږه ئې ومخامخ دیوال ته تکیه کړېده ، کیڼ لاس
ئې ټوله دمېز مخ پوښلی او کښته شونډه ئې پر مځکه را ځړېده
بدپخو کاس تر کټ لاندی پروت واو پر کټ سر بېره یو تورسپی
بېده و . کوډگری په تر یو تندی پوښتنه وکړه ! « څه کوې ، چا
خبره کړې وې ، چه ته دلته راسه؟ » نجلی ځواب ورکی : « وی ،
انا ، ماد کور دباندی څه توت ټولول یووارلار راڅخه ورکه سوه
نوساړه می وسوه ، دلته راغلم چه ځان تود کم . »

بډی وویل : « ښه ، په دغه وخت کی چه ځان تودوې زما سر
به هم راږمونځ کې . »

دې انکار نسوای کولای ، نوداږو دشونډی بډی سره کښېنسته
اودهغې اوږده وېښتان ئې ورږمونځول او دځانه سره ئې کرار

کرار بدلی ویلې ، بډی هم ورو ، ورو بیده سوه . هر کله چه بډی
بیده سوه دانجلی راولاړه سوه ، دسپی پر سر ئې یو لوی لوښی
ورنسکور کی ، نوئې خپل ورورد کټ دلاندی را وایستی ، نوئې
په ځغستا پیل وکی . تر کوره ئې لا نیمی لار پاته وه چه تر شائی
دپښو خړپی وارویدی ، داسی خړپی چه ځمکه ورسره ښورېده هر
کله چه کوډگره بډی دتختو وپله ته راورسېده پوښتنه ئې وکړ
« اې کچنی پوله ! راته ووایه پردې خواڅوک دبدپخو کاسه
سره تېر سوی دی ؟ » پله ورته وویل هو کې .

بډی لا په ځغستا سوه ، تورسپی دمخه پر لاری بوی کښی او
داتر شا په پسې ده څوچه داوړو کاشین ته راورسېده دکاشینه
څخه ئې هم دبدپخو کاس څرک واخیست ، پس له هغه وژړی
غواته راغله ، دهغې څخه ئې هم پوښتنه وکړه چه څوک ئې لیدلی
دی که یه ، هغې هم ورته وویل چه هو کی او څرک ئې په لاس ورکی
په دغه شان بډی ورورسېده او بدبخو کاس ئې سره له خپلی خور
په یوه لو کڅوړه کی واچول او کورته ئې راوړل تر کټ لاندی
ئې وغور ځول ،

هر کله چه منځوی لټی خور ولیدل چه دلوئی خورې هیڅ
خبر رانه غی نوداهم رهی سوه ، نو څه سر دگرزوم چه په دی هم
هغه چه په لوئی خورې سوی وه وسوه ! ځکه چه داهم هغه سی لټه وه او
دهیچا به ښه ورنغله ، نه ئی ونه ټکوهله ، نه ئې غواولوشله هیڅ ئې ونکړه .

پس له دې نود کچنی خور ، دهغې ښې زحمت کښی خور
وارراغی داهم رارهی سوه منگر دې دټولو غوښتنی پر ځای
کړې ؛ دمنی ونه ئې ټکوهله ، اوړه ئې پاخه کړه ، غوا ئې
ولوشله پول ئې هم پریوی ، نوهر څه چه چاورته وویل هغه ئې
وکړه دبډی کره راغله ، دهغې وېښتان ئې ورږمونځ کړه ، چه
هغه بیده سوه ، داراولاړه سوه دسپی پر سر ئې یو لوی ، لوښی
ورنسکور کی ، نوئې کټ پورته کی او خپل ورور ئې سره له
خپلو دوو خوندوراوایستل اود کور پر خوا په منډه رارهی شوه
دالاو کورته نه وه راورسېدلی چه تر شائې دپښو خړپی وارویدی
بډی چه به دهر چا څخه ددوی څرک اخیستی هغو هیڅ ځواب
نه ورکاوه ، څوچه دمنې ونی ته راورسېدله ، دمنې دونی څخه
ئې پوښتنه وکړه : « اې زما گرانی ونی ! پردې خواباندی
څوک تېر شوی دی ؟ » دمنې ونی په خورا قهر سره وویل ! « یه
هیڅوک نه دی تېر شوی . »

څوچه بډی غوښته چه ددې ونی څخه تېر سی ، ونی ، نوی
ښاخونه وږېږول او چارچاپېره ئې لار بنده کړه ، دبډی لاسونه
ئې په شاخو ورڅیری کړه او سترگی ئې ورخوږ کړې څوچه
داددې ښاخو دمنځه راوتله ، هغه ښه خوربیا دوخته کورته
تللې وه او خپل ورورېې سره له خپلو خوندوو کورته رسولی و .

دمطبوعاتو نړۍ

د اصلاح د روزنامې ۱۳ کال

د اصلاح شریفه روز نامه دا ډولس کا له خپل مطبوعاتي ژوندد مملکت دحوائجو اودتولنې دا ذ هانو د روښانو او دپاره په غټو ګامو په خورا ښه ډول تر پایه رسولی دی بیا په تیره دهغه ورځې را هیسی چه د مطبوعاتو ریاست تاسیس شو، دې روز نامې وکولای شوه چه نوې نوې کورنې خبرونه اودباندنی واقعې اونور علمی اوفنی ګټور معلومات وخپلو ښاغلو ویونکو ته هره ورځ و راندې کړې سر بېره پر دې د ې شریفې روزنامې یوبل دقدر ورخدمت هم کړی دی چه هغه نو د پښتو ژبې لپکمه ده چه له څه مهاله راودې خواته ئې زیاته برخه پښتو شوې ده او په دې لار کښې ئې ښه موفقیت حاصل کړی دی موږ وخپل ښاغلی ملګری محمد قدیر خان (تره کی) ته اونور کار کوونکو ته ددې روزنامې ددیارلسم کال تبریك وایو ، او له ښه خدا یه څخه ئې تردې لازیات بریالیتوب دخپل زلمی عرفان پالونکی تولواك تر سیوری لاند غواړو امید لرو چه د پښتو و قسمت ته چه زموږ دمطبوعاتو خورا مهمه او فرضی و ظیفه ده تر اوس لاښه توجه وشی . (پښتو تولنه)

دجلال آباد منظره

دکابل کالنی ۱۳۱۹

که غواړئ چه خپل کتاب کور (کتابخانه) په یوه ښکلی گټور کتاب ښائسته کئ

چه هر راز علمی، او ادبی اطلاعات لری او د ژبی د علم مختلفه موضوعات

او د ۱۳۱۹ سنې دولتی اجراءات او نور ښه ښه جذاب گراو رونه

پکښ سته۔

او یا که مو خیال وی چه یو څه کافی معلومات ستاسی پر علمی ذخیرو

اضافه شی او د مملکت محسوس ترقیات چه په ۱۳۱۹ کال کښ شوی دی

و وینئ نو (دکابل کالنی ۱۳۱۹) یوه نسخه هر و مر و ولاس ته د رو ئ۔

قیمت؛ کپرئ وقایه، ۳۰ افغانی ۳۰ پوله

کاغذی ״ ۲۲ ۲۵ ״

د پلور لوځای: د مطبوعاتو د مستقل ریاست د اجرائې مدیریت